دمرغومي په شپږمه دروسي استکباردخونړي يرغل دعيدنى په مناسبت فوق العاده گنه

هفته نامه

دجهاد هنداره

مرات الجهاد

لومړي کال (۱۵)گڼه ، ۱۳۶۹هـ ش د جدی (٦)

بمباردمان ديوانه واررژيم بعد ازشکست يك حمله

مجاهدين حمله بزرگ قواى رژيم مزدورراکه به هدف توسعه ساحه کنترول برمناطق الچين وبـزوامام صاحب بتاريخ ۲۱قوس براه انداخته بود موفقانه عقب زدند .

يك خبرميديا درين رابطه مشعراست که درين عمليات بيست وشش نفر ازقواى رژيم کابل به هلاکت رسيده دوعراده تانك ويکعراده موترنيز تخريب گرديده است .

درصفحه « ۱۱ »

سورپوځ دتودو اوبو پرځاي دتودو وينو په ږندکي

په دوهم مخ کي



شوروي اتحادله توتي کيدوسره مخ دی که موله ماضي نه عبرت وانخيست نوپه دوزخ کی به ورښکيل شو

په (۱۲) مخ کي «گورباچوف»

دعلماوو د اتحاد يي اود قوماندانانو دسرتاسري شوراگډه اعلاميه

په (۱۰) مخ کي

دستالين مجسمه لرى کړاى شوه

واشنگټن ۲۱دسمبر:

په البانيه کى دمتعصب مشرداستعفى څخه وروسته ددغى هيواد له مرکزڅخه دستالين مجسمه لرى کړاى شويده ويل کيږى چى دروس ددکتاتور مجسمه يى دشپى له خوا ورجته کړيده

پرافغانستان باندی دروسانو دمستقيم تيري په وړاندی نړيوال عکس العمل

په دريم مخ کي

دنادزى اقدام دمعافي وړندی

دروس جمهوررئيس ميخائيل گورباچوف په دغه کارسخته خواشيني څرگنده کړيده چى دده ډيرخوږملگرى شواردنادزی داستعفى ورکولو څخه دمخه دده سره مشوره هم نه ده کړى هغه دخلکو دشورى په غونډه کى وويل چى زه ددغه کارسخته غندنه کوم گورباچوف وويل چى روس اوس دډيرو سختو ستونزو سره مخامخ دئ زمادملگرى زما يواځى پريښول بښخى دمعاف کولو وړندى .

مجاهدينو دپلچرخي په سيمه کي درژيم پوځي تأسيسات ترحملي لاندی ونيول .

دکابل په ولايت کي زوړومجاهدينو دقوس په ۲۵ نيټه دپلچرخي په سيمه کي د کمونست رژيم پر پوځي تأسيساتو ددرندو وسلو ډزي وکړي .

ددي پراخي حملي په ترڅ کي درژيم ۱٤ عرادي نقليه وسايل داورلمبه شوي اوزيات شميرپوځيان په هلاکت ورسيدل.

په رپوټ کي راغلي دي چي دکابل کمونست رژيم دځلورمي زغره والي قوا يوشمير منصبداران په دي تورچي دمجاهدينو سره يي لاس درلود . نيولي دي .

سرمقاله

دمرغومی شپږمه !

ديوه وحشيانه يرغل اوشرميدلی ماتی تکرار!!

دمرغومی په شپږمه نيټه دبشريت په تاريخ کی يوه نوی پاڼه واوښته ديوه ملت پر وحشتونوديوه نوی وحشت پاڼه اودبل ملت پرمظلوميتونود يوه بل ظلم اوتيرى دتپلو پاڼه !

دمرغومی په شپږمه بونوی باب پرانستل شو ديوه وحشی نظام دنويو جنايتونواوانسانی ضدنويو ستمونو باب اوديوه مسلمان ملت داتلواليو تورو ، شهامتونو اوعظمتونو يو نوی باب.

دمرغومی په شپږمه له ډيرو پټو رازونو نه پردی پورته شوی ديوه کرغيړن اوکرکجن نظام له مخ نه دسولی امن اوانسانيت په نوم پردی اوديوه ميرنی قام اومسلمان ولس له مخی نه دغفلت بی پروايی اوتوم

افغانستان نخستين کشور قرن بيست ازنگاه پناهنده ومهاجر

صفحه « ۴ »

د۱۳۵۸ کال مرغومي شپږمه دکمونيزم دماتی، رسوايی اوذلت پيلامه اودافغان مسلمان ولس دپاخه عزم ، لوړوارادو اوقوي ايمان دمظهرآغاز

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : (١٣٦٩) هجري شمسي

سوریوځ دتودو اوبو پرځای دتودو وینو په ډنډکی

د م ، ز « شفيقي » ليكنه

د۱۳۵۸ لمريز كال دخلق دمنفوربانډ دتپلی رژیم په وړاندی ټول ملت دجهاد په وياړلی مورچل كی ودريد اوبالاخره دغه برميال غورځنګ اودجهاد توپانی څپی دومره توپاني اوګړندی شوی چی له ورايه دروس شپيته كلن سوچونه اودسيسی بی نتيجی اواوبو وړی ښكاريدل.

دافغانستان داسلامی غورځنګ په قومانده سپيځلی جهاد ورو ورودبری درشل ته ورننږدی كيده ، دخلق اوپرچم باندونو خپلمنځی اختلافونه له يوی خوااودټول ملت برميال قيام له بلی پلوه ددغه منفوررژيم درانسكوريدو اوډيرزرچپه كيدو زيری وركول دامين دواكمنۍ دوره وه هغه هم پوهيده چی ډيرزربه دملت دقهرپه اوركی لولپه كيږی همدغه وخت ؤ چی دافغانستان په تاريخ كی يوه نوی پاڼه

واوښته ديوه سرزوری استكباری ځواك دظلم اووحشت نوی باب اونوی پاڼه اوديوه مسلمان تش لاسی اوعظيمی ارادی خاوند ولس دتورو، حماسو ، اتلوليو ، بريو ، شهادتونو اوقربانيو پاڼه.

د۱۳۵۸ كال دجدی ٦مه نيټه وه دافغانستان شمالی ګاونډی وحشی روسيی دخپلو غلامانو اوخپلو نارواهيلو دساتلو اودفاع لپاره پر بی دفاع تش لاسی خوبا ايمان افغانستان

> سورپوځ هيڅكله هم په دی خيال په كابل كی پښه نه وه ايښی چی دپښی له ايښودو سره سم به يی مسكو ته دمړيو دتابوتونو استول پيل كيږي

باندی پوځی يرغل راوړدهغوی يوسترهدف له دغه ظالمانه اوناروا اقدام څخه دتزاريانو

زاړه خوبونه ربښتيا كول اوتودو اوبو ته درسيدو ئمه وه موږكوښښ كوو چی په دغه ليكنه كی دروسانو دپوځی يرغل له پيل نه نيولی ترشرميدلی ماتی اوبيرته وتلو پوری دروسانو دجګړنيزو تاكتيكونو ، پوځونو دشميردوسلو ډول اودلويو جنګی فعاليتونو په باب لوستونكو ته څه ناڅه مستند اودقيق معلومات وړاندی كړو.

د۱۳۵۸ كال دجدی په شپږم ماښام دپنجشنبی په شپه له معمول سره سم دكابل راډيو له څپو نه دمزدوررژيم دغلام

مشر«ميرغضب امين » مبالغه اميزصفتونه جاری وو چی دتاشكند راډيو نه دكابل راډيو دخپو مطابق دببرك كارمل دواكداری‌ترانی اوصفتونه پيل شول په همدغه شپه روسی كوماندو قواؤ په دارالامان كی دامين په استوګن ځای يرغل وكړ اوبالاخره له يوڅه مقاومت وروسته ظالم اومرتد امين دخپلو بادارانو په لاس دغلامانو سره په مناسب مرګ ووژل شو اوببرك كارمل دروسانو په ټانكونوسپورد كابل په‌ارګ ورننوت دافغانستان په تاريخ كی نوی پاڼه واوښته دروسانو (١١٥٠٠٠) پوځونه په رازرازمدرنو وژونكو جنګی وسايلو وسله وال زموږپر هيواد پلی شول ، له دغی پيښی سره سم نورديوه خپلواك ، اسلامی اوناپيلی افغانستان تصوردنړيوالو له ذهن نه ووت

په (٨) مخ كي

افكارعامه بردستگاه حكمران برروسيه،به نسبت مداخله درافغانستان اعتماد ندارد

مردم شوروی دراثر دروغهای كه حكومت انكشوردرارتباط به مسأله افغانستان تحويل مردم خودنموده است ديكراعتماد ندارند.مقامات روسيه ازبدوامربه عساكر خويش كفته بودند كه انها دربرابر عساكر امريكايی وچينايی درافغانستان می جنكند نه افغانها

اين مطلب راداكتر«ترابل » محقق عاليرتبه قوای نظامی امريكا ابرازداشته‌افزوده است

كه اكنون تمام مردم شوروی ازواقعيتهای جنك افغانستان آكاهی داشته ومطبوعات شوروی نيزحقايق راكاملاً انعكاس ميدهند .

موصوف افزوده است: مردم شوروی ازين حقيقت اكهی دارند كه دها هزارازجوانان شان درافغانستان كشته شده ودها هزارتن ديگر معيوب شده اند

به عقيده داكتر«ترابل » جنك افغانستان بدان پيمانه برافكارعامه شوروی تأثيرات عميق گذاشته است كه انها درحال حاضر مداخله قوای شوروی رادرهيچ منطقه جهان نخواهند پذيرفت وحكومت انكشوررانخواهند گذاشت كه قوای خودرا بكشورديكربفرستند .

بكفته محقق نظامی مذكوراين احساسات به‌آن حدی است كه مردم انكشورحتی مخالف اعزام قوای شوروی به جمهوری های انكشورميباشند

موصوف ضمن بررسی عوامل خودداری شوروی ازاعزام قوايش به شرقميانه واشتراك قوای چندين مليتی درخليج كفته است عامل عمده اين خودداری شوروی، نتايج واثرات منفی جنك افغانستان ميباشد قوای روسی ازجنك دهساله افغانستان تجارب وخاطرات تلخ داشته وازجنك نفرت دارند .

داكتر ترابل درادامه علاوه نموده كه علت عمده ديگر خودداری ازاشتراك درقوای چندين ملتی درشرقميانه ناارامی ودشواری های ناشی ازاصلاحات اقتصادی گرباچوف درشوروی ميباشد .

همچنان «ديويد ايزبی » نويسنده امريكايی كه دررابطه به افغانستان نكاشته های زياد دارد نوشته است اين واقعيت دارد كه مردم شوروی مخالف جنك افغانستان بودند بخصوص درسالهای اخيران درشهرهای مسكوولينينكراد چندين بارعليه حكومت مخالفت خود راعلنی تبارزدادند .

«ايزبی » درادامه نوشته است : مداخله روسها درافغانستان هنوزهم ادامه دارد همين اكنون صدها مشاوروسی بادستگاه نجيب همكاری دارند وروسها به پيمانه وسيع مهمات نظامی وسلاح عصری رادراختياررژيم كابل می گذارند .

به عقيده «ايزبی» رهبران روسيه شوروی كه قبلاً به افكارعامه مردم خويش و قعی نكذاشته اند اكنون نيز چندان مدنظرندارند ، اما انعده كه طرفدارمداخله روسيه درشرقميانه‌اند با مدنظرداشت بعد وسيع تجربه تلخ مداخله در افغانستان ومشكلات موجودداخلی جرائت ابرازاين منظوررانداراند .

اوضاع واحوال ملی وبين المللی مقارن لشكركشی روسهابر افغانستان

سميع الله «تازه »

كودتای خونين كمونست ها درهفت ثور١٣٥٧ منبع اصلی تمام مصائب جاری كشورشامل تلفات بيش ازيك ونيم مليون ومهاجرت قريب شش مليون افغان،تحمل خسارات فراوان مالی به ارزش ملياردها دالر وبالاخره تهاجم غير قابل توجيه سوسيال امپرياليزم انسانخوارروس بر وطن عزير ما ميباشد وازهمين جهت است كه هرمحقق وپژوهشگر به حادثه ننگين هفت ثوربيشترتوجه ميكند تا نوعيت وريشه اين تومورسرطانی رادريافته به شناخت ونتيجه گيری قضايا ومصايب بعدی كه حمله روس ها بركشورما بزرگترين همه انهاست، بپردازد .

تحليلگران ودست اندركاران سياست وارتش ديگردرين باره هيچ شكی ندارند كه كودتای مذكورطبق دستوروپلان وسهمگيری مستقيم روسها روی اهداف مشخص طرح وعملی شده است .

ما دراينجا شرايط واوضاع سياسی كشور،منطقه وجهان رابررسی ميگيريم تابيبنيم كه روسها نخست دركدام شرايط به مداخله مستقيم دست زده وبعداً بكشورما حمله نمودند .

كودتای ٢٦ سرطان محمد داؤد راروسها طبق برنامه عملی نمودند وبا پيروزی ان روسها توانستند به هدف بعديكه رويكاراوردن نوكران حلقه بگوش كرملين بود گام مهم به پيش بردارند

اگرواقعات تاريخی بررسی گردد روسها ازرژيم داؤد برای اشغالگری درافغانستان بحيث يك دوره تقرب به هدف استفاده اعظمی نمودند .

موصوف دراغازبه اثر فريب روسها افراد كمونست راكه بلاشك اعضای فروخته شده ووفادارکی ، جی ، بی بودند دركدر رهبری قراردادكه هركدام انها تحت رهبری كی ، جی ، بی به نصب كمونستهای وطنفروش دربخش های كليدی ومهم دستگاه دولت مبادرت نمودند .

روسهاكه ازمدت ها قبل با استفاده ازشرايط وتحريك جهت خراب نمودن روابط با همسايكان بخصوص پاكستان دردولت افغانستان با دادن سلاح فرسوده وزنگ زده چون جرائيم جای يافته بودند گام بگام بخاطر براورده شدن روياي كهن روسها،دسترسی به ابهای گرم همچون شيطانی شيادانه كارمی كردند.

روسها با استفاده ازخودخواهی قوی داؤد دراونفوذ نموده روابط دوكشورهمسايه افغانستان وپاكستان راهميشه تيره نگهداشتند وتحت همين بهانه بود كه روسها توانستند به تمام بخشهای حياتی كشورچون صنعت اقتصاد ، تجارت خارجی تعليم وتربيه وقوای نظامی نفوذ نموده وحتی سياست كشوررا تحت تأثير قراردهند.

روسها كه محمدداؤد رابعد ازيك دوره استراحت بابرنامه

پرافغانستان باندی دروسانو دمستقیم تیري په وړاندی نړیوال عکس العمل

دسیدمحي الدين هاشمي ليکنه

روسانو د۱۳۵۸لمریزکال دجدی دمیاشتی په٦نیټه دخپل تریونیم لك زیاتو په مدرنو وسلواووسیلوسمبالو پوځونو سره دټولوملی اونړیوالو موازینو اصولو اومقرراتو پر خلاف دافغانستان پرخاوره مستقیم برغل وکړ، داچی ددی برغل انګیزی ، اهداف اونتایج څه وو، ځانته بیل بیل بحثونه دی ، چی دلته دهغو څیړنه اوسپړنه زموږداصلی موضوع سره اړخ نه لګوی موږغواړوپه خپله لیکنه کی په افغانستان باندی دروسانو دمستقیم تیری په وړاندی دنړیوال عکس العمل موضوع ته یوه ځغلنده کتنه وکړو .

په دغه برخه کی لازمه ده چی ترهرڅه لومړی دغه عکس العمل دملګرو ملتونو دفوق العاده اوکلنیو غونډو ، داسلامی هیوادونو دبهرنیو چارو دوزیرانو په غونډو اوکنفرانسونو ، دناپیلو هیوادونو غونډو اونورونړیوالو کنفرانسونو پریکړه لیکونواومصوبو په رڼاکی وڅیړو.

الف : دملګروملتونو فوق العاده اوکلنی غونډی

پرافغانستان باندی دروسانوله مستقیم تیری څخه (۱۸) ورځی وروسته د(۱۳۵۸) هـ ش دجدی په (۲٤) (۱۹۸۰-دجنوری ۱٤) نیټه دملګروملتونوفوق العاده اواضطراری غونډه جوړه شوه چی په هغی کی ټولو غړیو هیوادونو ګډون درلود . په دغه غونډه کی د۱۰٤موافقو ، (۱۸) ممتنعواو(۱۸)مخالفو رایو په ورکولو سره پریکړه وشوه چی له افغانستان څخه دی روسی عسکرووځی دافغانستان بی طرفی حاکمیت اوازادی حق دی اعاده شی ، خوروسانو دغونډی دغه پریکړه دافغانستان په کورنیو چارو کی لاسوهنه وبلله اودهغو منلو ته یی غاړه کښینښوده .

د۱۳۵۹هـ ش کال دعقرب په ۲٦(۱۹۸۰دنومبر۱۸)

دملګروملتونوپه (۳۵) کلنی غونډه کی افغانستان باندی دروسانو دتیری پرمسئله باندی بحث اوغوروشواوپه هغه پریکړه لیك راګیری وشوه چی داسلامی هیوادونوله خوا غونډی ته وړاندی شو چی په نتیجه کی د(۱۱۱) موافقو (۲۰) مخالفو او(۱۲) ممتنعو رایوسره له افغانستان څخه دروسانوتل اودافغانستان خلکوته پخپله دخپل سرنوشت ټاکلو دحق ورکول تصویب شول همدارنګه په دغه جلسه کی دملګروملتونوله سرمنشی څخه وغوښتل شول چی ملګری ملتونه دی یوتن ماموردی لپاره موظف کړی چی سیاسی مذاکراتو له لاری دافغانستان دقضیی دحل لاری ولټی چی بیادهمدغی پریکړی په رڼا کی کاردیویزددی کارلپاره وټاکل شواودجینوا دخبرواترولړۍ پیل شوه .

د۱۳٦۰هـ ش دعقرب په ۱۹(۱۹۸۱-دنومبر۲۰)

دملګروملتونوپه (۳٦) غونډه کی هم دافغانستان دقضیی په باب راګیری وشوه چی د(۱۱٦) موافقو، (۲۳) مخالفورایو (۱۲هیوادونو رای ګیری په غونډه کی ګډون ونکړ)هغه پریکړه لیك تصویب کړچی په هغه کی له افغانستان څخه دروسانو دوتلو ،دافغانستان خلکو ته دخپل سرنوشت ټاکلو ، دافغانستان بی طرفی اودملی حاکمیت برحق تاکید شوی ژ خوروسانو بیا هم دمخکی په شان دهغه له منلو څخه سترګی پټی کړی.

په ۱۳٦۱هـ ش دقوس په ۹ (۱۹۸۲-دنومبر۳۰)

دملګروملتونوپه اووه‌دیرشمه کلنی غونډه کی هم دافغانستان پرقضیه رای ګیری وشوه چی په نتیجه کی په (۱۱٤) موافقو (۲۱) مخالفو او(۱۳) ممتنعو رایو پریکړه‌وشوه چی روسی قواوی باید له افغانستان څخه ووځی اوورسره ورسره تاکید وشوچی په قضیه کی شامل اړخونه باید سولی ته درسیدو په لارکی له ملګروملتونوسره همکاری وکړی .

دملګروملتونوپه اته دیرشمه غونډه کی هم دافغانستان قضیه دبحث اوغورلاندی ونیول شوه اوپه نتیجه کی پرهغه پریکړه لیك راګیری چی دپنځه خلویښت اسلامی اوناپیلو هیوادونوله خواغونډی ته وړاندی شوی ژ . چی په نتیجه کی په غونډه کی دحاضرو(۱۵۸) غړوله جملی څخه (۱۱٦) مثبتو، (۲۱) منفی او(۱۷) ممتنع رایه ورکړه ،اوکومه مصوبه چی تصویب شوه هغه په حقیقت کی دافغانستان په اړه دملګروملتونوداصولی تګلاری څرګندویه وه .

دملګروملتونوپه نهه دیرشمه کلنی غونډه کی چی د۱۳٦۳هـ ش دعقرب په ۲٤(۱۹۸٤دنومبر۱۵) جوړه شوی وه په هغه پریکړه لیك رای ګیری وشوه چی (٤٦) اوناپیلو هیوادوله خواغونډی ته وړاندی شوی ژ . د(۱۵۹) رای ورکوونکو غړیو له جملی څخه (۱۱۹) مثبتی ، او(۲۰) رای مخالفی وی چی هغه هم دروس په اقماروکی دشاملو هیوادونو استازی وو. په پریکړه لیك کی دافغانستان څخه دروسی قواووتلو زیات ټینګارشوی ژ .

دملګروملتونوپه خلویښتمه غونډه کی چی د(۱۳٦٤)هـ ش دعقرب په ۲۲ (۱۹۸۵دنومبر۱٤) جوړه شوی وه دری ورځی پرله پسی دافغانستان پرقضیه بحث وشو اوټولو برخه والو په دی اړه خپل نظرڅرګندکړ. په نتیجه کی د(۱۲۲) مثبتو رایو په پریکړه لیك تصویب شو چی په هغه کی افغانستان څخه دروسی قواودوتلو دافغانستان دناپیلتوب له بهرنی مداخلی پرته دافغانستان دخلکو دخپل سرنوشت ټاکل اودروسی قواوله وتلو څخه وروسته دمهاجرینوبیرته خپل هیوادته دستنیدو پرموضوع ټینګارشوی ژ .

دملګروملتونوپه یوخلویښتمه کلنی غونډه کی (۱۳٦۵-هـ ش دعقرب -۱۹۸٦نومبر) هم دافغانستان قضیه په اجندا کی شامله وه ، درای ګیری په نتیجه کی (۱۱۹) مثبتو رایویوپریکړه لیك تصویب شو چی په هغه کی له افغانستان څخه دیرغلګرو روسانواوپخپل لاس دافغانانودسرنوشت ټاکلو پرموضوع پوره تاکید شوی ؤ.

د۱۳٦٦هـ ش کال عقرب (۱۹۸۷نومبر)

دملګروملتونوپه دوه خلویښتمه کلنی غونډه کی هم دافغانستان پرقضیه غوراوبحث وشو اوپه ۱۲۳مثبتو رایویی یوپریکړه لیك تصویب کړچی په هغه کی له افغانستان څخه دروسانو په بی قید اوشرط وتلو پرموضوع ټینګارکړی ژ

ب :داسلامی هیوادونوکنفرانس اودبهرنیو چارودوزیرانو کلنی غونډی

کله چی روسانوپرافغانستان باندی یرغل وکړسمدلاسه داسلامی هیوادونودکنفرانس دیوه غړی هیواد دبنګله دیش دجمهوررئیس ضیا الرحمن په غوښتنه داسلامی نړی د۳۹ هیوادونوداستازیو په ګډون دپاکستان په مرکزاسلام اباد کی یوفوق العاده غونډه جوړه شوه چی په هغه کی یی پرافغانستان باندی دروسانو مستقیم تیری په کلکه محکوم کړاوهغه دټولو نړیوالواوصولو اومقرراتوخلاف وباله .

اوهمدارنګه یی داسلامی هیوادونو دبهرنیو چارو دوزیرانوپه کنفرانس کی دروسانودمزدوررژیم غړیتوب وځنډاوه اودافغانستان څوکی یی خالی پریښودله اوضمناً له ټولوغړیو هیوادونوڅخه

په (۱۰)مخ کی



په ګاونډی ورورهیوادکی زموږد برمیال جهاددملاتړ اوروس د بی رحمانه یرغل دغندنی یوه ژوندۍ بیلګه

دامنیت شورا دفلسطین دمسئلی په رابطه یوقرارداد منظورکړ

دملګروملتونو دامنیت شوری تیره شپه دڅلورو ناپیلو هیوادولخوادفلسطین په باب پیش کړای شوی قرارداد درایو په اتفاق منظورکړیدی همدارنګه دعربو اواسرائیلو دشخړی دحل لپاره دیوه بین المللی امنیتی کنفرانس درابللو غوښتنه شوی ده دافیصله دیمن استازی عبدالله صالح لخواڅوك چی دشوری مشرهم دی واوروله شوه . دقرارداد په برخوکی دعربو نیولی شووځمکو ته دفلسطین ځمکی ویلی شویدی اوله دغو ځمکو څخه یی دڅلوروفلسطینیانو دشړلو غندنه هم کړیده (۱۵) کسیزی امنیتی شوری په یوه خوله دملګروملتونوله عمومی منشی څخه غوښتنه کړیده چی دفلسطین دمسئلی دحل لپاره زیاروباسی امریکی ددی قرارداد مخالفت نه دی کړی په قراردادکی په ښکاره ټکو کی ویلی شویدی چی اسرائیلو فلسطینی ځمکی د۱۹٦۷م کال څخه نیولی دی په قرارداد کی په ملګرو ملتونو باندی زوراچولی شویدی چی هغه دی دفلسطین دخلکوساتنه یقینی کړی اوکه ضرورت پیښ شی نوخپل نورمشاورین دی نیولو شویو ځمکو ته لیږی اودهغوی څخه دی دمعاملو په باب پوښتنه وکړی پردی سربیره دی په اسرائیلو باندی زورواچوی چی هغوی دی د۱۹٦۹م کال دجینوا په غونډه کی په شوی پریکړه عمل وکړی په قرارداد کی په لمړی ځل دملګروملتونو دعمومی منشی څخه غوښتنه شوی ده چی دجینوا په غونډه کی دشریکو هیوادونو غونډه دی هم راوبللی شی ترڅو چی اسرائیل دغونډی په هره پریکړه په عمل کولو مجبورشی په غونډه کی په خلکو باندی دجزاګانواودهیواد څخه دشړلو سخت مخالفت شویدی دفلسطین دولس ترجمان نامرالقدوه وویلی چی زما دقرارداد سره ځنی اختلافونه شته ځکه چی ما دفلسطین په مسئله ددی څخه مختلف قرارداد وړاندی کول غوښتل مګرددنیا دحالاتو له مخی زه ددی پریکړی منلو ته مجبورشوم .

افغانستان اودروسانو شرموونکی ماته

(چې بدګرځي بدبه پرځي)

لیک: شیرمحمد

دروسي واكدارانو دپراختيا غوښتنى دپلان په اساس دکمونست گوند دمشر بريژنف په دوره کې د۱۹۷۹کال دډسمبر په ۲۷نيټه دروسي پوځی قواوی دکی ، چې بی دباوری غوړی ببرك كارمل په ملتیا زموږپاکی خاوری ته ننوتی ترڅووکولی شی دافغانستان دمسلمان ولس پاځون چې دکمونستی مزدوری دلګی په مقابل کی پیل شوی ؤ ، دزوراوپوځی فشارپوسیله په ډیره لږه موده کی راوځپی اوخپل لاس کښینولی گوډاګیان دواګوپه گدۍ وساتی اوپه همدی توګه چې کله یې زړه وغواړی نوداهیواد به هم لکه دنوروحکومو هیوادونو په شان دمستعمری په ډول ترخپل تسلط لاندی راولی .

دروسانو دغه په ډاګه تیری اولاس وهنه دنړۍ تهولو هیوادونو ته دخطر زنګ ؤ خودوحشی صفتو کمونستانودنا رواعملونوله ویری هیڅ یوه هیواد ددی برغل مخنیوی ونکړمګردزیاترو هیوادونوله خوادروسي داعمل په خوله اوژبه وغندل شوسیاسی مبصرینو داسی تبصری پیل کړی چې ګنی دافغانستان نوم دجغرافیی له سیاسی نقشی څخه لیری کیدونکی دی له هری راډیو څخه دافغان مقاومت دماتی غږاوچت شو ، له شرقی بلاك سره دیوه بل هیواد افغانستان دیوځای کیدو پیشبینی کیده ، دامریکی اوغربی هیوادونو غرورمات شو ځکه چې ډیره مهمه اوستراتیژیکه سیمه دروسانو لاسته ورغلی وه خوبدی تولو هیوادونو کی یواځی دبریتانویانو اټکل اوپیشبینی پرځای ولګیده دوی دروسانو دتیری په هماغه لومړیو وختو کی وویل چې روسانوبایدپدی کارکی له انګریزانو سره سلا مشوره کړی وای اوموږبه هیڅکله روسی مشرانوته ددی تیری مشوره نه وای ورکړی خواوس داسی بریښی چې روسانله دیرسخت ازموینت سره مخامخ دی مورته

دافغانستان دخلکوزړورتیا ، میړانه اوشجاعت لایونیم سل کاله پخوامعلوم شوی ؤ اودایوه ثابته خبره ده چې افغانان دتاریخ په اوږدو کی ندی ایل شوی نوضرورېه روسان لدی ټولو عصری اومجهزووسلو سره سره له ماتۍ مخامخ کیږی اوپه تیښتي سربه لدی خاوری نه وایستل شی.

دانګریزانو داټکل سره سم دروس سروپوځونو دخپلی ناکامۍ له ویری دتیرولسو کلونو په اوږدو کی دافغانستان په مظلوم اومستضعف ولس داسی ظلمونه اوجنایات ترسره کړل چې دبشرپه تاریخ کی بی ساری نه لیدل کیږی ، دالوتکو له بمباریو څخه نیولی بیا سرتهانکونوبمونو ، سخت توغندیو اورازرازمدرنی وسلی ددی خاوری پر بی دفاع انسانانو استعمال شوی ، دزړو ، ځوانانو ، ماشومانواوښځو عامه وژنو لوټماریو ، اعدامولو ، زجر، شکنجو اوفشارونو څخه یی ډده ونکړه .

داسي شرموونکی ماته ورکړه چې له خپلی اویاکلنی عقیدی څخه پښیمانه شول اودکمونیزم ریښی یی له بیخه وایستل .

دشرقی بلاك هیوادونه چی دکمونیزم په لومه کی نښتی ؤ یوپه بل پسی داکاذبه اورټل شوی نظریه لیری وغورځوله اوپه خپله خوښه یی خپله تګلاره وټاکله. دروسی په دننه کی دبالتیك جمهوریتونو اوهمداډول دروسي تراشغال لاندی اسلامی جمهوریتونودخپلواکۍ اوازادۍ غورځنګونه پیل کړل. دروسیی محرومو خلکو دلمړی ځل لپاره دحقوقودغوښتنی جرئت پیداکړ، پدی لړکی خلکوپه داسی دولتی ضد مظاهرواومارشونو چی دروسیی په تاریخ کی ندی لیدل شوی، لاس پوری کړاودی مظاهرو اواعتصابونودومره دوام وکړچی تولیدی مؤسسی یی په ټپه ودرولی اوروسیه یی له اقتصادی بحران سره مخامخ کړه تردی حده چی ددی هیوادمشرانواوس

جمهوررئیس ګورباچوف لدی ویری چې خپله واکمنی له لاسه ورنکړی امریکی اوغربی هیوادونو سره اړیکی ټینګی کړی اودنوموړوهیوادونو ملاتړیی ترلاسه کړ ، خوسره لدی هم دروسیی خپل منځی اختلافات دهری ورځی په تیریدو سره نوی بڼه نیسی او لانوره هم زیاتیږی لکه څنګه چې په تیره اونۍ کی دروسیی دپارلمان داستازو په غونډه کی دګورباچوف اودصدراعظم نیکولای ریشکوف دحکومت پر ضد انتقادونه وشول.

دروسیی فدراسیون جمهوررئیس بوریس یالتسین چې په ډاګه سره دګورباچوف مخالفت کوی وویل : دخومره قدرت غوښتنه چې ګورباچوف دجمهوری ریاست دڅوکۍ لپاره کړیده دومره قدرت ستالین هم نه درلوداووایی چې اوس هغه ورځی تیری شوی چې انقلاب به له پاسه رهبری کیده.

یالتسین زیاته کړه دروسیی پخوانی نظام دړوندی کیدو په حال کی دی اوبیا هم پوځیان کی . جی . بی اودکورنیو چارو وزارت دهیواد په سیاسی چارو کی لاس وهنه کوی .

همداوړمخالفوډلو دریشکوف پر حکومت انتقاد کړیدی چې دده حکومت داتوان نلری چې دبیا رغونی پالیسی په بشپړه توګه پلی کړی .

جمهوررئیس ګورباچوف ویلی دی په هغه جمهوریتونوکی چې امکان لری زموږدکنترول څخه ووځی نوباید دمسکو څخه په مستقیمه توګه اداره شی .

لدی وضعی څخه بریښی چې دروسیی امپراطوری به ډیرژرلکه دکمونیزم په شان انفلاق وکړی

نوروهیوادونو ته دمرستی لاس اوږدکړی دی .

داټولی ناخوالی دهغدی پوچی اوپلیدی عقیدی (کمونیزم) ثمره ده چې خلکوته یی دآزادۍ دحق نه ورکولو له کبله رامنځ ته کړیدی دروسیی

ددی ټولو کړغیړنو عملونو سره سره که زموږدهیوادوالو هرڅومره ویني وبهیدی اوپه شهادت ورسیدل که یی دبدن غړی له لاسه ورکړل که زندانونه تری ډك شول اویا په رنګارنګ کړاونو اخته شول .

که دهیواد ګوټ ګوټ له خاورو سره خاوری شو اوودانۍ یی ویجاړی شوی اویا دکلی کورڅخه په پریښودلومجبوره شول ، خوبیا هم دغه ننګیال اوپه اسلام مین ولس دراسخی عقیدی اوایمان په زوراودالله تعالی(ج) په مرسته اوتوکل دپلاراونیکه شمله هماغسی هسکه وساتله اوروسانوته یی لدی ټول طاقت اوقوت سره

بسم الله الرحمن الرحیم

اعلامیه مصوبه تاریخي ۱۳٦۹/۱۰/۳شوراي اتحاد علما وشوراي سرتاسري قوماندانان افغانستان

نحمده ونصلي علي رسوله الکریم وبعد:

ازانجائیکه جهاد مراحل نهایي کامیابي خودرامي پیماید .ونتائج مثبت ان درشرف ظهورمیباشد درهمچو لحظات حساس دشمنان جهاد درصدد این برامده اند تاچګونه نتائج وثمره جهاد مقدس رااختلاس نموده وازاینطریق بازهم مسلمانان واسلام راضربه زده مجاهدین ومبارزین حق راازحق تعین سرنوشت خود محروم سازند .

بناء ګاهي طرح حکومت مشترك مؤمنان بانجیب ملحد وګاهي هم طرح شوراي مختلط مجاهدین وملحدین و... رابمیان مي ارند . که براي این هدف ازطرف دول خارج ورسانهاي خبري تبلیغات مستمرومزید صورت میګیرد . به اساس اینمنظورشوراي اتحاد علماوشوراي سرتاسري قوماندانان جهادي افغانستان باهم به یك نتیجه رسیده موقف واحد خویش رادرقبال جریانات متذکره قراراتي اعلام میدارند.

۱- طرح حکومت مشترك بیطرف

۲- طرح شوراي مشترك باملحدین وګماشته ګان اجانب

۳- طرح کنفرانس بین المللي که درنظردارند باشتراك افراد رژیم ملحد ومجاهدین برګزارګردد.وهمچوطرح هاي دیګریکه اجنبي ها انرامطرح مي نمایند ومداخله درامورداخلي ما تلقي میشود . وهمچنان طرح انتخابات عامه با اشتراك رژیم ملحد وعناصر یکه شریعت اسلامي حق راي بانها ندهد شدیداً تردیدمینمائیم .

ما همه علما وقوماندانان وحدت کامل وعاجل مجاهدین راخواستاربوده تفرق مجاهدین وتعدداحزاب که منشه بروزاختلافات وذریعه مداخله اجانب میګردد جداً تقبیح وتردید مینمائیم بناء ما ازتمام زعمای مجاهدین تقاضا ومطالبه مینمائیم تاهرچه زودترودراسرع فرصت اختلافات ذات البیني خودها راکنارګذاشته واتحاد کامل واقعي که سبب نهائي نجات وطن عزیزووسیله استقرارحکومت اسلامي درافغانستان عزیزمیباشد بمیان ارند . ومن الله التوفیق

امضاء هاي علماء اتحاد — امضاهاي قوماندانان

افغانستان نخستین کشور قرن بیست ازنګاه تلفات ومهاجر...

تلفات جنګ دوازده ساله افغانستان که با کودتای خاینانه ووطنفروشانه کمونست های کابل درتبانی با کمونیزم جهانخوارروسی صورت ګرفت به مقایسه هرکشوریکه درجنګ های جهانی اول ودوم شامل ورزیده بودند بیشتر میباشد.این نتیجه ګیری تحقیقات ډاکترمیرك سلونسکی یکی ازدانشمندان پوهنتون شهرژنیو سویس میباشد .

موصوف که به تناسب نفوس تلفات راارزیابی نموده است می افزاید:درجنګ جهانی دوم بصورت منفرد کشورهای روسیه ، پولیند ، والمان تلفات زیاد دادند ولی تلفات جنګ افغانستان بیشتر ازتلفات هریك ازین کشورها میباشد .

بګفته ډاکتر میرك سلونسکي اګر تلفات کشورهای مذکورپنج یا شش درصد بوده است٬رقم تلفات جنګ افغانستان به (۹) درصد تخمین زده شده است.

موصوف علاوه نموده است افغانستان ازنګاه مهاجرین نیز کشوربی مانند است اګر تعداد مهاجرنیکه درداخل کشوربی خانه واواره اند با شش ملیون مهاجرکه درایران وپاکستان پناه برده اند جمع ګردد،پنجاه درصد پانزده ملیون نفوس افغانستان دراثرجنګ ایکه کمونست های وطنفروش با کودتای ملحدانه وخائینانه هفت ثوراغازکردند٬مهاجر شده اند.

په هندکې دمسلمان دوينو ارزاني

ژباړن : طاهر

په هندوستان کی دتیرولسوورځو راهیسی متعصبوهندوانو په ډیره بی رحمی دمسلمانانو وژنه پیل کړیده په حیدراباد ، دکن ، اوعلی ګړکی چی دمسلمانانو وژنی کوم دردونکی فسادونه په ټول هندوستان کی پیل شویدی په خرابوکړای شویوځایونوکی پوځ ته دواك سپارلوسربیره دبی ګناه مسلمانانو قتل عام شروع دی پوځ اوپولیس یاخومجبوردی اویادخبری منابعوله مخی دمسلمانانو په وژنه کی متعصبو هندوانو اوشرغوښتونکو پلوی کوی لکه څنګه چی ددهلی دجامع جومات امام بخاری صاحب دجمعی دلمانځه په وخت کی د ۲۰ زرومسلمانانو داسی غونډی ته دوعظ کولو په وخت کی داغوښتنه کړی ده چی په ټول هندوستان کی دی دبی ګناه مسلمانانو دساتنی لپاره بین المللی پوځ راوستی شی .

څکه چی دهندوستان پوځ اوپولیس دواړه دمسلمانانو دوژنی په بندولو کی ناکام‌شوی دی هلته په هندوستان کی یوبل پخوانی مرکزی وزیر عارف محمد خان دمسلمانانو دوژنی پرضد دجمعی په ورځ دلوړی اعتصاب شروع کړیدی دهغه سره د(جن مورچه) ګوند مشررام دهن هم پدی اعتصاب کی شریك شویدی څکه چی دمسلمان وژنی فسادونو له امله دهندوستان سلامتی ته هم خطرراپیداشوی دی اواوس داحــــــالات.

دهنددصدراعظم چندرشیکرخوك چی حکومت یی دکانګریس رایی دمشرراجیو ګاندی په سره جوړشویدی دقابو څخه وتلی دی څکه چی ددی ښکاره ثبوت دادی چی پولیس اوپوځ هم دحکومتی امرونومنلو ته تیارنه دی.

نوځکه پولیس اوپوځ دمسلمانانو په وژنه کی دفتنه غوښتونکو اومتعصبو هندوانو په ډاګه پلوی اومرسته کوی اومتعصب هندوان دمسلمانانو دوژنی لپاره د(درمسال) نوم اخلی پدی حالاتو باندی دتبصره کولو په وخت یوهندوستانی مبصرویلی چی هندوستان ټوټه ټوټه کیږی اوکه ډیرزرددی فسادونو مخنیوی ونه کړای شو نوهندوستان به په څوبرخو وویشلی شی ددهاکی دراډیو دمنابعو له خولی دحیدراباد په «دکن» کی مسلمانو پولیسوپه بی ګناه مسلمانانو باندی دګولیوچلولو امرچی هندومنصبدارانو ورته کړی ؤ ونه مانه وروسته بیا دمسلمانو پولیسو اودهندو پولیسو ترمنځ دجنګ لړۍ شروع شوی ده اواوس متعصب هندوان په روغتونونواوشفاخانو باندی حملی کوی اوهغوی دفسادونو په دغه وخت کی په علی ګړ کی په یوه روغتون حمله وکړه چی په نتیجه کی ۳۰ تنه ناروغه مسلمانان شهیدان شول اودغه شان دبلند ښارله یوی

دبلند ښارله یوي کورنۍ د۳۱ تنو څخه یې ۲۲ تنه ژوندي وسوځول په سوځول شويو کې ۹ تنه ماشومان هم شامل دي چې ددوي عمرونه له ۲،۵ کالو څخه تر ۱۳ کالو پوري ؤ

کورنۍ د۳۱ تنوڅخه یی ۲۲ تنه ژوندی وسوځول په سوځول شویو کی ۹تنه ماشومان هم شامل دی چی ددوی عمرونه له ۲،۵۰ کالو څخه تر۱۳ کالو پوری ؤ ددغی کورنۍ ۹ کسو په ډیره سخته خپل ځان ساتلی دی دغه داړونکی وحشی اوظالم متعصب هندوان دمسلمانانو دوینو دومره تږی دی چی حتیٰ لوبغاړی اوواده شوی ناوی اوزلمی هم ددوی له وحشت اودرندګی نه خوندی پاتی نه شول دحیدراباد په دکن کی دپوځی نظام دنرمی په وخت یوه نوی واده شوی ناوی اوزلمی چی په موټرسائیکل سواره وواوخپل کورته تلل ووژل شول دهندوستان دکرکت دلوبی کپتان اظهرالدین چی دنړۍ یومشهورلوبغاړی دی دوژنی اودده دکورنۍ دوژنی لپاره ددوی په کورحمله وشوه حمله کوونکو اظهرالدین دمرګ چیغی وهلی اظهرالدین دحیدراباد دکن دیو متوسطی قبیلی په (وتهل واری) نومی ځای کی اوسیږی .

وسله والو پولیسو داظهرالدین اودده کورنۍ دکورڅخه دوتلو په وخت ددوی مرسته وکړه دمسلمانانو وژنه اول دحیدراباد دکن دزاړه ښارڅخه شروع شوی وه لیکن وروسته دغه فسادونه په ټول ښارکی خپاره شول اومتعصبو هندوانو دپوځ اوپولیسو په مرسته دښارپه نوروځایوکی لکه کنګ کوتهی کن ناوندای ، نارائن، ګوره، حیرت اباد ، لال تیکهری ، کاجی ګوره اوپه حمایت نګرکی دمسلمانانو په کورونو حملی وکړی ابادیو ته یی اورواچوه اوښځی اوواړه یی شهیدان کړل دهندوستان څخه دلته رارسیدلو خلکو وویلی چی پاریدلی هندوان دپوځ دریشی واغوندی اودمسلمانانو په وژنه لاس پوری کړی اودمسلمانانو دکوروداورمرکولولپاره په ټانکونو کی داوبو پرځای دخاوروتیل اچولی شوی وی .

دسکندراباد ، ګندی پیت ، نجاره هلز، اونام هلی په څمکو پرتودایرانی مسلمانانو په هوټلونویی حملی وکړی اوسخت تاوان ئې وررساوه دعلی ګړاوحیدراباد څخه پیل شوی دمسلمان وژنی فسادونو څخه وروسته په اترپردیش ، ګجرات ، احمد اباد ، بنارس ، بروده ، ترولی ، اګده ، خانپور، کومتی پور، کانپور،کانیکواراوحویلی کی مارشلا لګول شوی ده دیو سروی له مخی په تیرو لسو ورځو کی په ټول هندوستان کی ۵۰۰-مسلمانان سړی،ښځی اوکوچنیان شهیدان اودکروړونو روپو ابادی یی سوځول شوی ده فسادونوکی راښکیل ځایونوکی دپوځی نظام دلګولو سره بیا هم دمسلمانانو عامه وژنه اتمه ورځ ښځو ته ددووساعتو لپاره دکوروڅخه دوتلو اجازه ورکړل شوی وه دتازه خبروله مخی په علی ګړکی په تبی شویو مسلمانانو تیل وشیندل شو اواوورته کړای شو داولادو په مخ کی میندی ټوټه ټوټه کړای شوی په هندوستان کی دمسلمان وژنی فسادونه نوی ندی دازادی له تحریك څخه دمسلمانانوعامه وژنه پیل شوی ده دهند دنیمی وچی دویش څخه دمخه دبهارپه ایالت کی زره دردونکی اوپه بی رحمانه توګه په سلهاومسلمانان وژلی شوی وو دویش څخه سمدستی وروسته په دهلی کی په وینه بهیدونکی فسادونو کی په زرهاؤمسلمانان سړی ، ښځی اوکوچنیان شهیدان کړای شوی ؤ اودکروړونو روپو ابادی یی سوځولی شوی وی چی ددغه ناوړه پیښو ذمه دارد کانګریس ګوند دی څکه چی دوی متعصبو هندوانو ته په خپله غیږه کی ځای ورکړی دی اوپه کانګریس ګوند باندی تراوسه پوری دبرهمنو اولوړذاتو هندوانومنګولی ښخی دی کله چی دهندوستان خلك دګرانی اونورومسائلوڅخه تنګ شی اوسرکونو ته راووځی نوحکمرانان اولوړذاتی هندوان دحالاتو مخ دفرقه ایزوفسادونو طرف ته اړوی اوددی سره سره دمسلمانانو په عامه وژنه پیل کوی .

دهند دنیمی وچی دآزادی څخه وروسته حکمران ګوند کانګریس دخپلو ګټولپاره دمسلمانانو مخالف دمتعصبو هندوانو ګوندونه راشتریه سیوك سنګهـ ، جن سنګهـ اوهندومهاسبهایی‌استعمالول اودوی دمتحدهندوستان نعری وهلی دهندوستان په حکومت باندی تر ډیری مودی پوری قابض دنهروکورنۍ ذکرشوی ګوندونه استعمالول اودقفیدی صدراعظمی اندراګاندهی څخه وروسته دهغی زوی راجیو ګاندی هم دهمدغی پالیسی ترمخی قدم پورته کوی؛ په تیروانتخاباتو کی کانګریس رایی ته دیوځای شویو مخالفو ګوندونو لخواماتی ورکړای شوه اووی . پی سنګهـ صدراعظم شو چی دراجیو ګاندهی دسخت خفګان باعث وګرځید ، دبلی خوادوی . پی . سنګهـ په مخلوط حکومت کی دشامل یوګوند (جنتاپارتی) مشرچندرشیکریعنی اوسنی صدراعظم له ډیری مودی راهیسی دصدراعظمی هیله لرله چی راجیو ګاندی تری ښه خبرؤ چی په مناسب وخت کی بی داستعمالولو په لټه کی ؤ وی پی سنګهـ چی دآزادفکرخاوند اودفرقه پرستی مخالف دی دصدارت دچوکۍ داخیستوسره سم یی د(منیډن کمیشن) سفارښتونه چی دډیری مودی راهیسی په طاق سنیان کی پراته ؤ هغه یی نافذکړل ددغی کمیسیون دسفارښتوله مخی دټیټ ذات هندوانو ته دندی اوملازمتونه ورکړل شول چی په دی سره برهمن زاده راجیوګاندهی سخت قهرجن شو څکه چی ټیټ ذات ته دوظیفو په ورکول کیدو سره برهمن اوداوچت ذات په هندوانو ناوړه اغیزه کیده له بله پلوه چندرشیکهرله دغه حالت څخه په ناهیلی کیدوسره دبابری جومات په بهانه دمسلمانانو عامه وژنه پیل کړه اودوی . پی . سنګهـ حکومت یی راپــــــه ګونډوکړچندرشیکهرد راجیوګاندهی په مرسته اوملاتړ صدراعظم شواودمنیډل کمیسیون دسفارښتنو موضوع دتعطل ښکارشوه .

ددی کړنو له امله دټیټ ذات په هندوانو کی ناآرامی راخوریدل خودمخنیوی لپاره یی دیومنظم سازش په نتیجه کی په ټول هندوستان دمسلمانانو عامه وژنی فسادونه پیل کړای شول چی اوس ددغی عامه وژنی

دډهاکی راډیو له خولی دحیدراباد په «دکن» کی مسلمانو پولیسو په بی ګناه مسلمانانو باندي دګوليو چلولو امرچی هندومنصبدارانو ورته کړی ؤ ونه مانه وروسته بیا دمسلمانو پولیسو اودهندوپولیسو ترمنځ دجنګ لړۍ شروع شوی ده

مخنیوی دچندرشیکهرله واکه هم پوره نه دی څکه چی ددغو فساډونوترشا دراجیو ګاندهی دکانګریس ایی ښپړلاس دی که چیری چندرشیکهرددغو فسادونو دمخنیوی هڅه وکړی نودی به هم دصدراعظمی دچوکۍ نه لاس په سرکړای شی.

دملداویا جمهوریت ته دګورباچوف ګواښ

دروسیي جمهوررئیس ګورباچوف ګواښ کړیدي که چیري دملداویا جمهوریت په لسو ورځو کې دفرقه یي اقلیتونوترمنځ دستونزو دحلولو لپاره اقدام ونکړي نودنظامي قوي څخه به کارواخلي .

ګورباچوف دجدي په لمړي نیټه خبرداري ورکړکه چیري تاوتریخوالي کم نه شي نوټول لازمي اوضروري اقدامات به ترسره کړي . خوداسي څرګنده نه شوه چیي څه اقدامات به وکړي . ویل شویدي چې کولي شي ملداویا دمرکزي حکومت ترکنترول لاندي راولي اوپه حساسو سیمو کې عسکرواچوي .

همداډول ګورباچوف پرهغو دواقلیتونوچي ځانونه یې دملداوي نه بیل اوددووسستقلوجمهوریتونو په توګه اعلان کړل غږکړیدي چي خپله فیصله باطله کړي.

جهادي ادب

چاهیڅ نه منله خود عصر قهرمان شومه
زه مثال دتوری ، قرباني په ټول جهان شومه
يادچی په «غازي میره» اتل شهید افغان شومه
زه ژوندی تعبیر دتیر عظیم عزت اوشان شومه

***** *** ***

جهادي لندۍ

خاونده خدایه خیرورپیښ کړی
نن مجاهد بیا دتعرض په لوري ځینه

جهاد دخدای دلوري فرض ده
ځوانان دخدای امرمني سرورکوینه

بی ننګه یاره خدای دواخله
بي ننګي ته کړی پیغورماته راکوینه

شعاریی کورکالي دودی ؤ
کوریی شوګورکالي کفن دودیه غمونه

په اسمان ستوري ښه ښکاریږي
په ځمکه ښه دشهیدانو مزارونه

محمد علي شمس ورحیب

تماچی یسر غلګره ددارې لښکرې راوستی
زه دی هسم خوله داسی ماتولی کړولی شم
توره چی له تیکی نه راوباسم په توره شپه
زه پری سپین سحردازادی راختولی شم

فولکلور

وایی یونفر په دي لته کي ؤ چي داسي لاره پیداکړي ترڅو دعسکري څخه پري معاف شي ، ډاکتر ته ورغي : ډاکتر صاحب ! زما سترګي ضعیفي دي لرېاتي دي چي ړوند شم ، ما معاینه کړه .

ډاکتر تر معاینې وروسته دنسخي دلیکلو په حال کي ؤ چي ناروغ ډاکتر ته مخ ورواړوه :حتمي ده چي لیکي زما سترګي ړندي دي ترڅو دعسکري څخه معاف شم ؟!

ډاکتر ځواب ورکړ: نه ، محترمه ! ستا سترګي نږدي شي ډیر ښه ګوري غواړم ولیکم چي له تاسو څخه په لاس اوګریوان جنګونوکي استفاده وکړي .

آرامګاه مجاهد

مرسل ناړه

دراغوش ان دره تنګ
برفرازان صخره سنګ
ودرزیر سایه بلوط بلند
توغي دراهتزازاست
درانجا ارامګاه ګمنامان
ارامګاه فرزندان راستین این سرزمین
ازخانه دورازاینجا
فرزندي ازیک پدرومادرمسلمان وهموطن
نامش مجاهد بود
انجا ارامګاه یک مجاهد
اینجا وانجا وهرکجا ارامګاه مجاهدان

دولسي ادب په ړانګوکی

دشهادت وینو می رنګ ورکړو ځان ته کنه
خلکه معطل می نکړی ځم ګورستان ته کنه
مااسلام په نامه تن ، روح اوسرورکړی
تل می خلقی، پرچم ته داسی خبرورکړی
دروس مرمیو ته می ښکلی ټټرورکړی
ښکلی تاریخ به پرېږدم ټول جهان ته کنه
دشهادت وینو می رنګ ورکړو ځان ته کنه

په زړه سوری، سوری یم ظالم خلقی دلاسه
په وینو رنګ شوی یم پرچم خلقی دلاسه
په شهادت رسېږم دسره روسی دلاسه
کفن پر سرورځمه دجنګ میدان ته کنه
دشهادت وینو می رنګ ورکړو ځان ته کنه

دروس ګولۍ می شولې ښخې بدن کې ورونو
زوی می یتیم پاتی شوپه بل وطن کې ورونو
سختی می ونه لیده په ځنکندن کی ورونو
تاسو خوفکر وکړی درب احسان ته کنه
دشهادت وینو می رنګ ورکړو ځان ته کنه

مور، پلارموونه لیدل مړه بی دیدنه یو موږ
ځنګه به نه ژړېږو چی بی وطنه یو موږ
دخپل وطن په لیدو په تمه تمه یو موږ
«نیازولی»اوښکی ډځی په مخ ګریوان ګی کنه
دشهادت وینو می رنګ ورکړو ځان ته کنه

تشکل

جشنادګر

هلته !

هلته چی دچاودنو وحشتناک اولړزوونکی ، آوازونه زړونه نشي ډارولی .

هلته چی وینې،اوراودګولیو دندوکاردخلکو دازادی غوښتنې ملکوتی غږنشی غلی کولی .

هلته چی دتکبیرچیغی دتوپ اوبم ویروونکی غرمبی په خپله غیږکی نغاړی .

هلته چی دحق دلاری قهرمان مجاهدین پخپلو سرښندنواواتلوالیو سره ددښمن پولادی قوتو نه او استعماری ځنځیرونه یوپربل پسی ماتوی .

هلته چی ددودونو اواورونوله منځه دحق اوآزادی پاروونکی فریاد له زړونویوپه بل پسی سراپورته کوی اوراولاړیږی .

هلته چی ویراوماتم دشهامت اوانتقام روح پاروی اودجنګیالیوتندی دجګړی دډګرپه دړواوګردونوکی ځلیږی.

هلته چی دورانوکورونو له کنډوالواودغرونوله‌آسمانڅکو څوکواوتړونه دالله اکبرانګازی پورته کیږی .

هلته چی اورونه ژبغړانده لمبی وهی اوګولۍ لکه ږلی اوري اودژوند وړی ریبی – بمونه لکه دمرګ باران اوري اوبیا هم اوري ، کورونه نړیږی ، کښتونه سوځول کیږی سینی غلبیل‌کیږی اودژوند اوهستی مظاهرپه بل مخ اوړی .

خوچی ګوری دولس دمقاومت څپی اودانتقام جذبی توپانی کیږی اودخلکو دقیام اوخوځښت غږنورهم رسا کیږی اواوچتیږی اوددښمن پرځیګرلکه دتیرو غشوښخیږی دشهیدانو قافله روانه ده دوینو لښتی بهیږی دګولیو ږلی ارمانجن زړونه غلبیلوی داوراوبمونوباران په اوریدو دی خوددغه قهرمان ولس دازادی اوحق غوښتنی غږهمداسی لوړاورسا دی ـــ ,٤٧، ١

داغازیان !

بردېس

په‌خیرویي پریوتلي خرګردونه
ږنګي ښنګي یي لونګۍ شخ شخ بریتونه
عقابي سترګي په‌څارکي لري خښي
لوړي لوړي حوصلي پاخه عزمونه
نرغازیانه دي شهادت ته‌انتظاردي
څومره ښه وربانديښکاري مورچلونه
دادنیایي مااوتاته‌رابښلي
که موتهردي ، که راحت دي که قصرونه
په‌خولوذکرداللّٰه کاغلي‌غلي
په ځیرو کي یي تسل وهي موجونه
په ښکاره که خړپړښکاري خوچي ځیرشي
ترګردونولاندي پټ‌دي عظمتونه
هغه عزم دي چي روس یي رانسکورکړ
هاایمان ، چي کړي شیطان تري فریادونه
هغه ستري ارادي دي پکي پټي
بدلوي چي په‌ککروکي خیالونه
تردي‌خړو ځیرولاندي ورته‌ځیرشه
چي‌ښه‌وویني‌دعصرستړمېرونه
دنازونوله‌بستره‌بیګانه‌دي
په نصیب یي خړي ګاري سپیره غرونه
معرکي‌دقرباني‌ته‌چي‌تیاروي
سپیري شونډي چاودي پښي چاودي لاسونه
ترهسدي چاودلیو پوندولاندي دل شول
دخلقیانو شوبلي ، توپي اوجازونه
په‌همدغوښتوپټهوتوروسهو
بدل‌شوي‌دمحکوموتقدیرونه
په ختیځ چي چیغه ګډه په طاغوت کړي
په‌لویدیځ کي نړوي پاخه برجونه
په سورچل چي دتکبیر ناره کړي پورته
زلزلي‌شي‌لړزوي غرونه‌راغونه
دهمدغوننګیالوزلموګوزاردي
چي‌نړیږي په‌برلین کي دیوالونه
هغه روس چي دشکست په تمه نه ؤ
مچ ، میږي غوندي یي ډیر لړل پوځونه
دهمدغوننګیالوله‌لاسه‌ژاړي
نه یي هغه دبدبه شته نه کبرونه
څومره دنګي کنګري یي کړي نسکوري
په مورچل کي یي چي جګ شول تکبیرونه
څومره ستري دبدبي یي کړلي ډوبي
چي له وینویي روان شول سیلابونه
داغازیان چي دامت دسترګو توردي
عقل نه‌رسي کوي هسي کارونه
کله‌روس کله پرنګ وي شرمېدلي
چي همداغازي پري پورته‌کړي لاسونه
لکه‌غرهسي ولاړدي په مورچل کي
پرې‌ورېږي بمونوبارانونه
نه یي ویره شته نه خیال او فه پرواکړي
لکه‌مخکي یي وژلي وي مرګونه
ورته ګوره دنګي وني هسکي غاړي
چي تاریخ به‌یادول هغه‌سرونه
څوک یي توره خرخوي پر دښمنانو
څوک یي غواړي کړي دځان افتخارونه
خواچي اللّٰه ورسره مل وي پروانشته
که داټول جهان پري ووهي زورونه
داچلوټي ، پټ‌پټوني هلته‌دلته
ورته‌ښکاري بس دمړو شګوېندونه

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

دمجاهدینو په لاس دنیول شوو روسي پوځیانو خاطرې:

دمسلم ژباړه

په افغانستان کې دروسي پوځیانو داراوویره دیوه روسي پوځي شاعر دیوه نظم څخه هم ښه معلومیدلی شي دانظم (۱۹)کلن «پووارنسین یوري ګریګوریویچ» چې د«چرنلسکا» اوسیدونکی دی ویلی ، که څه هم چې دهغه شاعري څه معیاري شاعري نه ده خو دهغه په دې ورکوټي نظم کې یوه دنیا معنا پرته ده ،دابدنصیبه شاعر دخپل هیواد ، مور، پلار څخه لرې پردي هیواد کې ووژل شو ده بې ګوره اوبې کفنه پوځي جسدله کابل څخه (۲۰) کیلومتره لرې د«قرباغ» په یوه سیمې کې پیدا شو ،مجاهدینو ده له جیب څخه ده یو شناختي کارت اویوه کتابچه پیدا کړه یواځې دکتابچې په څلورپاڼوکې څه لیکل شوي ؤ په لومړي دووپاڼوکې ضروري پتې لیکل شوي وې ، په اخري پاڼې کې دخپلو صاحب منصبانو په نوم څه لیکلي ؤ اوپر اتمې پاڼې کې دا نظم لیکلی ؤ ، چې ددې ځوان پوځي دویرې اوډاربنه ترجماني کوي ، ددې نظم ژباړه داسې کیږي :

الله پاك خلق کړو محبت اواخلاص
شیطان وسله اوجنګي الوتکه جوړه کړه
الله پاك جنت فردوس ته وجودورویابښه
اوشیطان دافغانستان خاورې ته .

دننګرهارولایت دڅمرخیلو » په سیمه کې مجاهدین دروسانو په مقابل کې جهادپاندې بوخت وو، دروسانو په ډله کې ددې داسې پوځیان هم شامل ؤ چې ظاهراً مجاهدینو سره دمقابلې لپاره راغلي ؤ خوپه حقیقت کې دمجاهدینو سره دیوځای کیدو تږي ؤ دې هدف ته درسیدو لپاره هغوی دمناسب وخت په تمه ؤ هغه څه ؤ چې داځوانان یې دخپل پوځ خپل هیواد ، خپل قام ، پریښود و ته اړه کړله ، دادوی پخپله داسې بیانوي :

« په روسي کې ژوند کول په دوزخ کې دژوند کولو څخه کم نه دی ، موږفکرکاوه که موږپه څه ډول له دې دوزخ څخه نجات ومومو نودناانصافۍ له اوره به دتل لپاره خلاص شو لکه چې همداسې وشول » اوس (۲۳) کلن عبدالله (۲۱) کلن بسم الله او (۲۲) کلن رحمت الله چاته پخواني روسي نوم نه ښیې ځکه چې هغوی دخپل ټول تیرژوند څخه کرکه لرې عبدالله چې لوړه ونه لرې اوډیرې خوږې خبرې کوي وویل :

« موږیواځې روسي پوځ څخه تښتیدلي پوځیان نه یوو موږدکفر له منګولو څخه تښتیدلي انسانان هم یوو»

عبدالله داسې ځان معرفي کوي : زما نوم «عبدالله » دی چې (۲۳)کاله پخوا په «لیان ګراد »کې زیږیدلی یم زماپلار اصلاً روسي دی په روسي پوځ کې ما دتوپچي دنده درلوده زمااصلي دنده په پوځ کې نه وه بلکې زه یې په جبري توګه افغانستان ته پوځ کې راالیږلی یم په دې خاوره زماتنخواه (۱۳) روبله وه زمونږپه مقابل کې دهغو پوځیانو چې اصلي دنده



پوځ کې ؤه تنخواه زياته ؤه اودروسي په پرتله بیادکمونست ګوند دغړو تنخاګانې بیخي زیاتې وې که هغه به صاحب منصب ژاوکه غیر نظامي دنده به یې درلوده ددې حالت په لیدلوسره روسي کې هیڅوك مطمئین نه دی کله چې موږله روسي څخه دافغانستان پر لورراروان شووپه زړه کې مې داتلوسه پیدا شوه چې کاشکې داسې موقع په لاس راشي چې دروسي پوځ څخه وتښتم .

موږپه هغو ورځو کې دننګرهارولایت دڅمرخیلو په سیمه کې دمجاهدینو سره په جګړه بوخت وو مادمجاهدینود زړورتیا کیسې اوریدلې وې په جګړه کې مادهغوی زړورتیا ښه بیلګه ولیده هغوی ناڅاپه دیوی خوا پرموږحمله وکړه اوچې کله

نور بیا

هلته ...

هیڅ رڼا دافغان جنګیالیو دتوري دځل اوبریښنا تاب نشي لرلی اوهیڅ دنیوی ځواك دافغان مجاهد ولس دمقاومت اوسرښندنې سیالې نشي کولی داخدایي قوت اونصرت به دظلم ، وحشت ، اوګمراهی ټول برجونه نړوي اوله منځه وړي اودغه ځلااوبریښنا به دکفراوجبر دتیارولمن ورټوله کړي.

لنډه کیسه

عوض الدین «صدیقي»

دوینو بدرګه

دوړې اولوګې سره غاړه غړې اوپه نڅاوو بیخي په نژدې سیمه کې هم څه نه ښکاریدل ،دتوپ ګولۍ به چې ولګیده دخاورویوه خړه لوخړه به یې دآسمان په لورپورته کړه دمرمیو دزونودغم نغمه غږوله ، هغه به چې دیوې لورې ځان دمرمۍ څخه بچ کړدبلې لورې به یې سنګ شو اومرمۍ به یې ترڅنګ تیره شوه ، یوې غمې تیږې ته لویدلی ؤ سترګویې څلورخواوې څارلې ، دمرمیوباران دفکرمجال نه ورکاوه دځان سره به وبوګنید ه دحلیم دوې ځای نه معلومیږي چې چیرته به وي ؟...

اه،خدایه!اوس غږهم نه شم ورکولی ...

یوسف ځان نورهم ځمکې پسې ورخښ کړ، دآسمان له لورې دوړې دداورې دڅپولو په شان پرې رالویدلې اوچې بیا به یې دتوپ ګولۍ ترڅنګ ولګیده ددوړوپه منځ کې به ورك شو بیخي دځمکې سره نه معلومیده چې ښه به ورته ځیر نشوې نه به پوهیدې چې ښایي څوك وي ، پر سر ، ملا اوپښو یې خاورې پرتې وې ،خړ، پړۆ یوواریې سترګې دلویدیځ خواته خیرې کړې ښه دقیق شو ، دروسانو ګونګسې یې ترغوږوشو دځان سره وبوګنید :

لکه چې روسان دي ؟... خدایه ته مې پرې غازي کړې کلاشینکوف یې په لاس کې سم کړ ، ججوره یې ورپسې ټینګه کړه له چانټې یې دوه ، درې ججوري نورې هم راواخیستې ، اوخپلې مخې ته یې کیښودې، دپښو اوازیې ترغوږوشو ،ښه ځیر شو دځان سره یې وویل لکه چې مخکې راروان دي ؟...

ټوپك یې لاس کې جګ کړغوښتل یې نښې ته یې برابر کړي چې دتوپ یوه ګولۍ راغله اوټوپك یې په هواکې ترې یوور، دتوپ ګولۍ یې ښیې لاس ته پرغټ کمره ولګیده ، دوه درې پارچې راغلې پر لاس اوپښه یې ولګیدې ، وینې پرې راروانې شوې سرېې وچورلید پښه یې ورو شانې راټوله کړه ،اه،خدایه !فریاد یې له خولې ووت ، ځان ته یې ټکان ورکړ ، شااوخواته یې وکتل ښه ځیرشو یوځل بیایې له ځان سره وویل :

اه،خدایه ! داڅه وشول... اوس به څنګه کوم ...

یوکلاشینکوف راسره ؤ هغه هم له منځه لاړ... بیا یې شااوخوا وکتل ، ښه دقیق شو ،دلویدیځ لوري ته یې ځیر ځیروکتل دروسانو ګونګسې یې ترغوږوشوندې وښوریدې :

یره لکه چې روسان رانږدې شول ...

پرچپ لاس یې له ملاڅخه دسمال راخلاص کړاوټپې لاس یې وربانده وتاړه ځان یې حملې ته چمتوکړ، یوه برابره تیږه یې راواخیسته دپښوترپاورته رانږدې شوه ، ګولۍ هساغسې دباران په شان شا اوخوااوریدې ، دکلاشینکوف ضربودیوې دقیقې لپاره چوپتیا ته وارنه ورکاوه خوچې دتوپ ګولۍ به ولګیده دکلاشینکوف دمرمۍ غږبه یې ورك کړ.

یوسف ځان بیدارکړ، دلویدیځ لورې ته یې ځیر، ځیروکتل لیدل یې چې یوروسي دړزې کوي اوټیټ ، ټیټ ده خواته راروان دی ، دالله اکبر غږپه پورته کولو سره یې پرې ورمنډه کړه بې دریغه یې دتیږې وارپرې وکړاوروسي یې دلوپه منځ کې وویشت روسي کلاشینکوف ده خواته سم کړاویوه ضربه یې پرې وکړه خولاګولۍده ته نه وې رارسیدلې چې ځان یې وغورځاوه ، غوښتل یې پرروسي دتیږې بل وارکړي چې شااوخواتري نورروسان تاوشول ځیر ، ځیر یې ټولو ته وکتل وروشانې راجګ شو دشوندو لاندې څه وویل ، روسانو یې پر سردکلاشنیکوف خولې کیښودې اودمخکې تګ قومانده یې ورکړه وروشانې یې ګام واخیست ، بل ګام یې واخیست خونوې دریم ګام ته پښه پورته کړه چې دیوه روسي پر کلاشینکوف یې

ورټوپ کړاودسترګو په رپ کې ترې واخیست خولایې دروسانو خواته دکلاشینکوف خوله نه وه سمه کړې چې دکلاشینکوف یوه ضربه راغله پرټټرېې ولګیده ولوید اودغزاارمان یې دشهادت په وینو بدرګه شو .

څه ستره هنګامه دروس ، افغان مقابله وه
دحق دسترمورچل اودشیطان مقابله وه
نړۍچې زنګیدله ، خوځیدله ، لړزیدله
داوسپنې باروتو اوایمان مقابله وه

سوریوځ دتودو اوبو پرځای دتودو وینو ...

تولی نړۍ داګڼله چی دروسانو دګوډاګی رژیم په وړاندی چی دافغانستان مسلمان ولس کوم مقاومت کاوه هغه مقاومت اوپاڅون نـــورخـــتم شو اوافـــغانســـتان نوردروسی استکباردکمونستی سپوږمیو له جملی نه یوه نه بیلیدونکی سپوږمۍ شوه.

روسانو هم خپل پوځونه په دی تصورافغانستان ته رااستولی ووچی دیوی میاشتی په اوږدو کی به دافغانستان دمسلمان ملت برمیال پاڅون اومقاومت ټول برجونه اومورچلونه نړوی اوپه دغه موده کی به دکمونیزم اوروسیی پر ضد ټول ځواکونه اوحرکتونه ختموی .

دیروزیاتونړیوالو شخصیتونو اودحکومتونو مشرانو پر افغانستان دروسانو یرغل یوسرته رسیدلی عمل ګاڼه

دە۱۳۵۸ کال دجدي په شپږمه ماښام دپنجشنبي په شپه له معمول سره سم دکابل راډیو له خپو نه دمزدوررژیم دغلام مشر« میرغضب امین » مبالغه امیزصفتونه جاري وو چي دتاشکند راډیو نه دکابل راډیودخپو مطابق دببرك کارمل دواکداري تراني اوصفتونه پیل شوي

اونوربې ددی تصورهم نه کاوه چی دروسی وحشی په رازرازوسلو سنبال پوځ په وړاندی په تش لاس اوبی وسی افغانان مقاومت وکړای شی داسلامی هیوادونو په سطحه یوازنی دبنګله دیش درئیس جمهورمرحوم ضیا الرحمن په پیشنهاد اودپاکستان دشهید جمهوررئیس په ملاتړاوهلو ځلو داسلامی هیوادونو دبهرنیوچاروذوزیرانوغونډه په اسلام اباد کی جوړه شوه اوپرافغانستان دروسانو دیرغل غندنه وشوه همدارازدروس ددغه تیری دهراړخیزو اغیزوپه باب خبری وشوی که څه هم

دکنفرانس په پای کی دروسانو دبی قیداوشرط سمدستی بیرته وتلو اودافغانستان دمومن ولس دمقاومت دملاتړپه باب قـــراردادونه تــصویب شول خــواغــیــزه یــی دروس پــر مغرورواونړیخورو سردمدارانو دهیڅ په حساب وه .

دروس دتیری پر سبا دجدی پـه «۷» دجـهـاد مـشـران پـه یوځای کی راټول شول اوددغه نـاوړه تـیـری پـه بـاب یـی دراتلونکی تکلاری اواقداماتو پـه بـاب مـشوری پـیـل کړی ، دلته ووچی دټولی نړی داټکل اوتصورپر خلاف زموږملت ، اودمسلمان افغانستان سرتیرو غازیانودجهاد شرف‌اوشهادت لاره انتخاب کړه دروس دتیری پـه مـخـه کی لـکـه غـرودریدل اوددیـــن اووطـــن دازادی اواسلامی حکومت دقیام لپاره یی دجهاد اوشهادت مورچلونه جوړکړل.

روسانولومړی دجهاداومقاومت پر سترو مرکزونو سختی حملی پیلەکړی دهغوی په خیال په لنډه موده کی دمقاومت لیکی باید ویجاړی شوی وای خوررو وروهغوی په داسی داړی کی ورښکـیل کیدل چی نه په شا تری ستنیدای شوای اونه یی پرمختک کولای شوای.

بـریـژنـیـف لـومړی یـولـك اوپنځلس زره پوځونه دجنرال «موروس کرومول » په مشری افغانستان ته راواستول.

هغوی په هرازوژونکو وسلو سنبال وو ، ان له پیله روسانو زموږدمجاهد ولس پر خلاف له کیمیاوی ګازونو (بی ام ۱۲- بـی ام ۱٤- بـی ام ۱٦- بـی ام ۲۱- بـــی ام ٤۱) لـــری ویشتونکو راکټونو ډول ډول ټانکونواوبوس توپونواومیګ۲۱ ، میګ ۲٦ ، میـګ ۲۷ ، میـګ ۲۹الوتـکو څخه کارواخیست چی لوی لوی اوخطرناك ښونه انتقالولی شی پـردغـو ټـولـو وسـلـو سـربـیـره هـغـوی دخـپـلـو مـزدورانـو پـه

دروس دتیري پرسبادجدي په «۷مه » دجهاد مشران په یوځای کی راټول شول اود دغه ناوړه تیري په باب یی دراتلونکي تګلاری اواقداماتو په باب مشوری پیل کړی ، دلته وو چی دټولی نړی داټکل اوتصورپرخلاف زموږملت اودمسلمان افغانستان سرتیرو غازیانو دجهاد ، شرف اوشهادت لاره انتخاب کړه

لارښوونه پـه ډیر زوراووحشت پـوره یـو کـال ډول ډول جـنـګـی تاکتیکونه زموږدهیوادوالو په مقابل کی وازمویل خوڅومره چی وخت تیریده اوڅومره چی روســانـــو زمـــوږپـــر ولـــس داوراووینو ډرامه تودوله هومره یی نتیجه منفی په لاس ورتله اودخپلو خیالونوپر خاموالی یی یقین پخیده هغوی دتودو اوبو په هیله راغلی وو خودلته دتودو وینو په ډنډکی راګیر شول لـه یوکـال وینی تویـولو اووحـشـت ورروسـتـه روسـانـو زمـوږپـه هـیـواد کـی دخـپـلـو پوځونو شمیر تردوه لکه تنو زیاټ کړ همدارنګه یی دجګړی تـاکـتـیـك لـه یـرغـل ، کـسـین نـیـونـی ، وحـشـی بمبـاردونـو اوویـجـاړوونـکـو وسـلـو نـیـولـی ترهری هغی تجربی چی لیدلی اواوریـدلـی یـی وه ټـول یـی وازمویل خوبیا هم دخدای (ج) په فضل زموږدمجاهد ملت دمـقـاومـت لـیـکـی لاپـرځـای اودجـهـاد اوشـهـادت تـوغـونـه لارپاند وو.

روسانوزموږدهیواد په کوټ ګوټ کی ډیر کلی له یو مخی په کنډوالو بدل کړل ، داسی چی هلته اوس هیڅوك نه اوسیږی ان چی ډیرداسی ویجاړاوله خاوروسره برابر شویدی چی سړی ددی تصورنه شی کولی دلته به هم یو وخت اباد ی وه کلي وو اوخلك پکې اوسیدل

زموږمسلمان ملت چی کله دروسی پوځونو په وړاندی دمقاومت مورچلونه ابادوساتل اودهغوی پـه وړانـدی یـی دشهادت اوقربانی لارخپله کړه دلتـه ووچی دروسی وحشت هغه کرغیړن انسانی ضدځیره ـنکل لوڅه شوه ، هغوی زموږدمسلمان ملت دمقاومت اوجهاد په بدل کی پربی دفاع ولس ، کلیوکورونو اوښارونو بی دریغه بمباری عامی وژنی اوبی مثاله وحشتونه وکړل صوږدلته دهغوی دستـسونو اوناروااویادونه نشوکولی خوله لسوکالو وحشت ورروسته چی کـلـه روسـی پـوځـونـه لـه افغانستان نه وتل نوشاته تری ودان ویـجـاړپـه هـدیـره بـدل افـغـانـسـتان پـاتی شو هـغـه افغانستان چی دیونیم ملیون تنو پاکو شهیدانو په وینو لمبیدلی ؤ اودروس له وحشته یی دریمه برخه نفوس «٦» ملیونه تنه ګاونډیو هیوادونو ایران اوپاکستان ته په هجرت اړشوی وو.

روسان چی کله په کابل کی پلی شول نودمقاومت دځپلو خیال اوموړال یی لوړ سره پوځ داروپا زیاتره هیوادونه بیله څه مقاومته لاندی کړی وواوکه یی مقاومت په وړاندی شوی ؤ هم ډیر کمزوری ؤ همدغه دختیځی اروپا هیوادونولاندی کول وو چی په نړۍ کی یی سره پوځ له نامه سره په شا نه تلونکی اوماته نه منونکی صفتونه لازم ګرځولی وو ، هغوی افغانستان ته هم په همدغه روحیه راغلل ان چی افغانستان ته یی په ډیرولاملو له ختیځی اروپا نه هم په کمه سترګه کتل نوسورپوځ هیڅکله هم په دی خیال په کابل کی پښه نه وه ایښی چی دپښی له ایښودوسره سم به یې مسکو ته دمړیو دتابوتونو استول پیل کیږی نوکله چی لومړی ځل دوی کابل ته راغلل غوښتل یی په عمومی تهاجم دمقاومت روحیه هم وځپی اودافغانستان دولس پـه مـنـځ کـی پـه یـوه عـمـومـی مـانـوره دسـره پـوځ دقوت اودبدبی مظاهره وکړی هـغـوی دهـیـواد پـه ځـیـنـو مشهوراوځواکمنو مورچلونو همداغسی سرتاسری بی سراوسامانه یرغلونه وکړل دروسانو لومړی یرغلونه دکونړ په ولایت کی داسلام دغازیانو پر مرکزونو ترسره شول ورروسته بیا په پکتیا ، پروان وردګو ، غزنی ، لوګر اوبالاخره دهیواد پـه ګـوټ ګـوټ کـی چـی څـه جبهی اوجهادی مرکزونه ووټول دروسی پوځونوتربی دریغه حملو لاندی راغلل خولکه مخکی مو چی وویل هغوی په خپل اټکل اوپلان کی تیروتلی وو زموږمومنو مجاهدینوپه خپلو هیڅ شماروسلودهغوی په مقابل کی مورچل ونیول اوښه پـه زړه پـوری مـالـی اوځـانـی زیانونه یی دښمن ته ورواړول دروسی پوځونو دیرغل په لومړیو میاشتو کی ددوی تلفات ډیر زیات وو دلته وه چی دکریملن حکمران «بریژنیف » اودهغه سیاست پلویان اوانډیوالان دخپل خیال په پوچ والی وپوهیدل خودوی هغه وخت وپوهیدل چی مسکو ته دروسی پوځونودمړیو لړۍ روانه شوی وه .

روسانو دخپلو زیانونو دلړولو اومقاومت دځپلو لپاره داځل په درنو وسلو ، بی دریغه بمـبـاردونـواوګـنـشـب هلیکوپټروتکیه وکړه ،مجاهدینو له یوی خوا دهوایی قواوددفاع وسلی نه درلودی اوله بلی خوا روسانو زیاتره دمجاهدینو دمرکزونو پرځای پر استوګنو سیموهکلیو اوکورونو ښونه اوراکټونه واورول ، په دغه مرحله کی طبعاً زموږدمسلمان ملت تلفات بلکل زیات وو ، خوبیاهم مقاومت مات نشو اونه مجاهد ملت دروس دوسلو زورته سرټیټ کړ.

ورپسی بیا روسانو دلارو په بندولو اوکمین نیونوغلچکی بریدونو اوناڅاپی هوایی بریدونوزیاته تکیه وکړه ، دمجاهدینو دتګ راتګ لاری ترسختو څارنواوهوایی بریدونولاندی ونیولی شوی ، دشپی لخوابمباری پیل شوی ترډیره وخته دغه تاکتیك دوام درلودخوبیا هم روسانوڅه نتیجه ترلاسه نکړای شوه .

* څوکلونوکی دافغانستان دلاندی کولو هیلی دروس ډیرو وحشی حکمرانانوله ځانه سره ګورته یووړی بریژنیف مړشو ، وریسی چرننکواوبیا اندروپوف هم یوپربل پسی تودو اوبو ته درسیدو هیلی له ځانه سره ګـورتـه یـووړی اوبـالاخـره وارګورباچوف ته ورسید ، په افغانستان کی هم دروسی شاشجاع «ببرك» پرځای بل نوی غلام «نجیب» ذډرامی ستیج ته راوړاندی کړای شو ، دګورباچوف دواکمنۍ دپیلیدو نه وړاندی روسانو ښه درك کړی وه چی دافغانستان په باب

په ۱۹ مخ کي



اوضاع واحوال ملی وبین المللی...

ازنګاه سیاسی وانکشاف بعدی روابط به رژیم مذکوربسیارسود مند بود.

درجریان همین سفر بود که درپاکستان داؤد خان ازطرف صدرضیا الحق رئیس جمهورسابق پاکستان بگرمی استقبال گردید وکدورت سالهای طولانی درروابط دوکشورکه صرف به نفع پلانهای ستراتیژیك روسها بود ازبین رفت.

این جریانات که به نفع کشوربود هیچگاه مورد پسند خواص سلطه جویانه کمونستی بریژنیفی کرملین قرارنگرفت.

درصحنه بین المللی زمامداری جیمی کارتردرقصرسفیددرمقابله با تندروی ستیزه جویانه بریژنیف رهبر روسیه شوروی لیاقت وکفایت چندانی ازخودنشان داده نتوانست وبالاثردردهه هفتاد کمونیزم روسیه با مداخله ود ست اندازی درامورکشورها موفق گردید که برعلاوه انجام کودتان درافغانستان درچند کشورافریقایی نیز رژیم دموکراسی راسرنگون وبه عوض ان رژیم های دست نشانده رانصب نماید.

درشرقسیانه رژیم شهنشاهی درایران که سخت به منافع امریکا وفاداربود با انقلاب اسلامی ازمیان رفت وامریکا ضربه کاری خورده بود ، بدینسان چندین تغییرات دیگردرگوشه وکنارجهان به سود روسها انجام پذیرفته بود که با جمعبندی تمام این تحولات دهه هفتاد راکمونست ها دهه پیروزی برای مفکوره پوسیده ومنحط شان بحساب می اورند.با تحلیل پیامدهای کودتای کمونستی درافغانستان،که به رژیم داؤد که علاقمند سیاست مستقل ازسلطه روسها بود،پایان داد،روسها درقدم بعدی یعنی بیست ماه بعد ازمداخله مستقیم ازطریق کودتای ثوربه هجوم ولشکرکشی به افغانستان پرداختند .

روسها درمقارن هجوم شان برافغانستان اوضاع وفضای سیاسی اروپا رانیزمتشنج ساخته بودند وتوانسته بودند که بااخلال گیری بیشرمانه درکنفرانس صلح وامنیت اروپا درهلسنکی جنگ سردراهمچنان ادامه داده وتحت همین بهانه به اشغالگری کشورهای اروپای شرقی که محکوم کمونیزم روسی بودند شدت بخشیدند .

درچنین یك فضاکه با کودتای جنایتبارثوروحدت ملی کشورازهم ریخته وحاکمیت ملی خدشه دارگردیده بود ومردم افغانستان ازرژیم کمونستی خلق وپرچم متنفر وعلیه ان قیام نموده بودندودرصحنه بین المللی نیزدراثرعدم توانایی تصمیم گیری جدی وشایسته امریکا دربرابرپرابلمهای مهم منطقوی وبین المللی بحیث طرف مقابل موازنه جهانی قواقوه بازدارنده تجاوزروس وبا استفاده ازتعدد منازعات منطقوی،روسها بخاطرتوسعه امپراطوری ظلم وسرنیزه کمونیزم ودستیابی که ابهای گرم بحرهند بتاریخ شش جدی ۱۳۵۸ با سرنگونی دستگاه جبر وظلم حفیظ الله امین جابر وخائین ببرك كارمل این ایجینت سابقه داروشناخته شده مدیریت ۲٦ کی ، جی ، بی رابا قوای خویش همچون عروسك كوكی ازمسکوباخوداورده برسرنوشت کشورما حاکم ساختند.

بدین شکل روسها نیز درقرن بیست مانند انگلیس ها درقرن نزد هم برکشورما لشکرکشی کردند وهم شاه شجاع دوم رابرکشورماحاکم ساختند وکشورما یك قرن بعد بازهم مورد هجوم امپراطوری اشغالگربی فرهنگ کمونستی قرارگرفت ولی ملت مجاهد افغان مانند گذشته همچون انگریزهاقوای روسی رابه شکست مفتضحانه مواجه ساخته کشورراازلوث روسها پاك نمودند .

سوریوځ دتودو اوبو پرځای دتودو وینو ...

ددوی ټول خیالونه اوارمانونه هسی بی تعبیره خوبونه ووهغوی په دی ښه وپوهیدل چی افغانستان ته دپوځونولیږل بوه نه بخښونکی اونه جبیره کیدونکی سهوه وه اوورو ورودغه ګناه توردبریژنیف پر سری ورو تپل شو اوددی ترڅنګ چی روسی لښکرو په افغانستان کی دوینو ، اوررونو اوویرونو ډرامه ښه توده کړی وه په نړیواله سطحه دافغانستان دمسٔلی دسیاسی حل خبری راولاړی شوی اوس حپل پخوانی سیال امریکا ته دافغانستان دمسٔلی په رابطه ډیرامتیازونه ورکړل ترڅودوی دوینوله دغه ډنډنه روغ او «باابروا» ځانونه وباسی.

په روسیه کی دګورباچوف داقتدارله پیل سره رارسیدلی ژ چی ګورباچوف دافغانستان ربړه دروس لپاره ناسورټپ وباله اودروسی پوځونونورپاتی کیدل له لازیات سپکاوی ، ذلت ، مرګ اوبالاخره دروسی استکباری امپراطوری،له بشپړی نابودی پرته بل څه نه ژ نوهغهٔ ژ چی دخپلو لویدیځوپخوانیو رقیبانواونویوخلیفانو په مرسته یی دژنیو ادتش په نامه تړون ترپرده لاندی د۱۳٦۷کال ددلوی په ۲٦نیټه دروس وروستنی پوځی هم دآمو پرسیند دجوړشوی پله له سره تیرشو اوله پوره یوی لسیزی وینوتویولو ، کورونو ، کلیواوفصلونوتباه کولو اوانسانیت سوزووحشی اعمالو وروسته دروس سورپوځ ناکام اونامراد دماتی اورسوایی

زموږمسلمان ولس یوځل بیا دروسی دورانوونکو وسلو دازموینت پوخونړی ډګرشو ، ګورباچوفی لښکرو په افغانستان،کی دتیرو واکمنو دقوماندو دوحشت اوورانیو ریکارډمات کړ، خوورسره سم زموږملت هم دخپل مقاومت وباڅون لیکی لامزبوتی اودجهاداوشهادت پرجاده کاروانونه لا زیات په میړانه روان شول نورنوهغه وخت

داعونه پرتندی دافغانستان له سپیڅلی خاوری نه وشړل شو.

وروستیو پیښو داسی وښودله روس چی له کومی رسوایی، ماتی اوذلت نه ځان ساته وبی نشو ساتلای ، پر افغانستان کی له شرمیدلی ماتی سره سم دسری امپراطوری،زوال پیل شو اودادی دیوه یوه نیم کال په موده کی دروس دحاکمیت په قلمروکی داسی حیرانوونکی بدلونونه راغلل چی دوه کاله

وړاندی یی چاتصورنشو کولی ، ټوله ختیځه اروپادروس له مدارنه وتښتیده دبرلین دیوال مات شو ، په ختیځه اروپا کی دکمونیزم پر ضد راولاړشوی توپان نه یوازی دروس دواکمنی او «مشری ورور» مقام تربپښو لاندی کړیلکی هلته دمارکس انګلس اولینن پروړاندی شوی نظریه اوفلسفه دبطلان کرښه راوکښل شوه دروس دجمهوریتونوپه دننه کی توپانی خوځښتونه پیل شول اوهره ورځ دروس دستری

اودمیبونوتوانساتانو په وینو سری امپراطوری دزوال ټوټه کیدو اومحوه کیدو نوی نوی زیری اوخبرونه اورو، چی داټول دروسی استکباردهغه نامردانه ، بی رحمانه اوغیر انسانی یرغل نتیجه وه چی دزمریانو پر هیواد یی په ۱۳۵۸کال دمرغومی په شپږمه کړی ژ . دروسی استکباردکبراوغروردمانۍ په رانسکوریدو سربیره ددغه خونړی پوځ ټول محتاط ښوول شوی زیانونه چی لویدیززیاتره مبصرین یی هم تائید وی داسی ښودلای شو تر«۱۰۰۰» فروندو پوری هلیکوپتری اوجنګی الوتکی راغورځول شویدی .

«۱۲۰۰۰» عرادی ټانکونه اوموټرویجاړشویدی له (۵۰)نه تر(٦۰) زروپوری پوځیان وژل شویدی.روسانو دوتنو په وخت کی د«۱۳۰۰۰» تنو دوژل کیدو اعترافوکړ خوهمدااوس څووخته وړاندی دګورباچوف یوه مرستیال پنځلس زره کسان ښودلی ددوی دغه تفاوت داښیی چی دروسی پوځونو دمړیو شمیر تردی څوچنده زیات دی چی دوی یی ښیی همدارنګه لویدیځ وال زیات په دی نظردی چی دروس دپوځ

تلفات تر«۳۵۰۰۰»تنو پوری رسیږی خوترټولو محتاط اندازه اوحقیقت ته نږدی همدغه د۵۰زرونه تر٦۰زرو پوری ده روسانو دخپلو پوځونو دوتلو په وخت کی دخپلو معیوبو اوټپیانو شمیر تر٤۵زروپوری ښودلی خواصلاًدټپیانو شمیر تردوه چنده هم زیات دی .

په افغانستان کی دروسی قواوشمیر «۱۷» فرقی ژ چی تر«۲۵۰۰۰» تنو پوری رسیږی هغوی پرپورتنیو ځانی تلفاتو برسیره هره ورځ له داسی مالی لګښتونوسره مخامخ ژ چی بالاخره دادی روس دلویدیځ خیرات خورشو اوتن چی کومی لوږی دروس پر قلمرو خوله خښنه کړی په افریقا کی یی مثال نه دی لیدل شوی .

نن موږدافغانستان دمجاهد ملت دتاریخی فتحی دوهم تلین دلمانځلوبه درشل کی یو کوم چی لس کاله وړاندی دتودو اوبو په هیله راغلی سورپوځ یی دتودو وینو په څپو کی بیرته له آمو واړاوه .

خون دغه تلین داسی وخت لمانځو چی تراوسه زموږد(۱٦) لکو سپیڅلو شهیدانو ارمان «اسلامی حکومت» لانه دی پوره شوی دروس مزدورغلامان لا په هیواد کی شته اوسره له دی چی له ټولی نړی نه دسری امپراطوری مړاندی وشلیدلی لمنی یی ورټولی شوی لاتراوسه زموږدهیواد په ګوګل کی دروس کرغیړنی ناسوردانی پاتی دی چی داډیره دافسوس خبره ده اوله خدایه غواړو چی ډیرزردغه کرغیړنی دانی په یوه بریالی عملیات زموږدهیواد له ګوګل نه وکښل شی اودکابل پر سینه داسلام وباړلی ربی په رپا شی.

والسلام

څومره چې وخت تیریده اوڅومره چې روسانو زموږپرولس داوراووینو ډرامه تودوله هومره یې نتیجه منفي په لاس ورتله اودخپلو خیالونوپر خاموالي یې یقین پخیده هغوي دتودو اوبو په هیله راغلي وو خودلته دتودو وینو په ډنډ کې راګیرشول

افغانهای مسلمان جنگ خویشراهمچنان مستدام نگهداشتند تاکمونیزم رادرکشورخویش ازریشه محو ساخته وتمام ان جراثیم راکه دست پرورده کمونیزم وکی ، جی ،بی روسیه اند وبالاخره سبب بدبختی های بیشمارملت قهرمان ومجاهد ما شده است نابود سازد .

بسم الله الرحمن الرحيم

دعلماؤوداتحاديي شوراوقوماندانانؤسرتاسري شورا د۳/ ۱۰/ ۱۳٦۹نيټي اعلاميه !

نحمد ه ونصلي علي رسوله الكريم وبعد !

څرنگه چي زموږ دمسلمان ملت جهاد دخپل بري وروستي پړاو ونه وهي اونژدي ده چي وروستي مثبتي نتيجي يي راووزي ،په دغسي حساسو او نازكوشيبو كي دجهاد دښمنان هلي ځلي كوي تر څو زموږ دسپيځلي جهاد ثمر غلاكړي او يو ځل بيا اسلام او مسلمانانو ته كلك گوزارورکړ ي او دخپل بر خليك دټاكلو له حق څخه يي محروم كړي – نو ځكه كله دملحد نجيب او مجاهدينو دگډ حكومت طرحه او كله بيا دمجاهدينو او ملحدانو دگډ ي شورا طرحه پيشنهاد وي ،چي ددي هدف دترلاسه كولولپا ره بهرني هيوادونه او په هغوي پوري اړوند خبري وسايل پرله پسي او دوامدار تبليغات كوي – په همدي اساس دعلماؤ ديووالي شورا او دقوماندانانو سرتاسري شورا ددغي جرياناتو په باره كي خپله واحده پريكړه او دريځ په لاندي ډول اعلانوي :

(۱) دگډ بي طرفه حكومت جوړولو طرحه

(۲) له ملحدينو او دبهرنيو ځواكونو له غلامانو سره دگډي شوراجوړولو طرحه

(۳) او ديوه داسي بين المللي كنفرانس طرحه چي غواړي په هغي كي مجاهدين اود نجيب بيدينه نمايندگان شريك وي او همدارنگه نوري داسي طرحي چي د پرديو لخوا پيشنهاد يږي او زموږ په كورنيو معاملو كي دلاسوهني معنا لري همدارنگه د داسي عمومي انتخاباتو ترسره كول چي په هغي كي دنجيب دمزدوررژيم او نورو كفري ډلو غړوته دانتخاب حق وركوي او شريعت يي جواز نه وركوي ټول موږ په كلكه غندو او ردوويي .

موږ ټول علماء او قوماندانان دمجاهدينو زرترزره دبشپړ يووالي غوښتونكي يو،داحزابو ډير ښت او دمجاهدينو اختلاف چي دنفاق او بهرنيو ځواكونو دلاسوهني اصلي عامل دي په كلكه غندو نوله ټولو مجاهدينو اودجهاد له‌مشرانو څخه هيله او غوښتنه كوو ترڅو زرترزره په لنډ فرصت كي خپلمنځي اختلافونه شاته كړي او بشپړ او واقعي يووالي وكړي چي اتحاد دافغانستان دازادي او اسلامي حكومت يوازيني او ستر سبب دي.

ومن الله التوفيق

دعلماؤداتحاديي لاسليكونه دقوماندانانو لاسليكونه

پرافغانستان باندي دروسانو دمستقيم ...

وغوښتـل شـول چی دغـه مـــزدوررژيــــم چـــی دافغانستا ن دمؤمن ملت اوولس له ارادی پرته دپرديو په زورتپل شوی دی په رسميت ونه پیژنی اوله هغه سره دی هراړخیزی مرستی قطع شی اوپه مقابل کی پریکړه وشوه چی دهغو مؤمنو افغانانو چی دروسانو اودهغوی دمزدورانو پرضد یی وسله وال جهادپیل کړی اوهغوی چی هجرت یی کړی هراړخیزه مرسته اوملاتړیی وشی په ۱۹۸۱ع کال دمی میاشتی (۱۷-۲۲) نیټه دپاکستان په مرکزاسلام اباددا‌سلامی هیوادونودبهرنیو چارو دوزیرانوپه کلنی غونډه کی چی (۳۹) غړیو هیوادونوپکی گډون درلود دیو پریکړه لیک په ترڅ کی پرغلگرو روسانوڅخه وغوښتل شول چی خپل پوځونه بی له کوم قید اوشرط له افغانستان څخه وباسی .

په همدغه کال دجنوری دمیاشتی په ۲۵ نیټه په طایف کی داسلامی هیوادونو دریم کنفرانس جوړشوی ؤ چی په هغه کی په ډاگه په افغانستان باندی دروس تیری محکوم شو اوله روسانوڅخه بې‌له‌قیداوشرط دوتلو غوښتنه وشوه .

داسلامی هیوادونوپه څلورم کنفرانس (۱۹۸٤-دجنوری ۱٦) کی هم په افغانستان باندی دروسانو دمستقیم تیری موضوع دبحث اوغورلاندی ونیول شوه اوپریکړه وشوه چی:
۱- روسان دی بی له قید اوشرط څخه له افغانستان نه ووځی .
۲- افغان مهاجرین دی په عزت سره خپلو کورونو ته ستانه‌شی
ج : نړیوال کنفرانسونه اودناپیلو

هیوادونودبهرنیو

چارودوزیرانو غونډی

پرافغانستان باندی دروسانو دمستقیم تیری نه رارروسته دناپیلوهیوادودبهرنیو چارودوزیرانولومړی غونډه په ۱۳۵۹هـ ش دلو(۱۹۸۱) ع کال کی په ډیلی‌کی‌جوړشو .
۳- دافغانستان خلکوته دی حق ورکړل شی چی خپل سرنوشت پخپله وټاکی

٤- دافغانستان داسلام اوبی طرفی مسئله دی حفظ اوتضمین شی .

داسلامی هیوادودبهرنیو چارودوزیرانو د کلنیوغونډو په اجندا کی دافغانستان قضیه شامله وه اوهرځل په بشپړ اکثریت سره داسی پریکړه لیکونه تصویب شوی چی په هغو کی له افغانستان څخه دیرغلگرو روسانو دوتلو اوافغانانو ته دخپل سرنوشت دټاکلو دحق ورکولو په موضوع تاکید اوټینگارشوی ترڅوپه ۱۹۸۹ع کال په سعودی عربستان کی داسلامی هیوادونو دبهرنیو چارودوزیرانوپه تاریخی کنفرانس کی دافغانستان چوکۍ دمجاهدینو دعبوری حکومت دبهرنیوچاروزیرانو ته ورکړل شوه
دغه غونډه کی سره له دی چی د روس په‌پلوی هیواد هند کی جوړه شوی وه پریکړه وشوه چی له افغانستان څخه بهرنی قواوی (روسان)ووځی دافغانستان دځمکنی تمامیت اوازادی حق دی رعایت شی ، دافغانستان بی طرفی دی تضمین شی اوافغانانو ته دی دسرنوشت ټاکلو حق ورکړل شی

دناپیلوهیوادونو بله غونډه هم په ۱۹۸۳ع ۱۳٦۱هـ ش کال په نوی ډیلی کی جوړه شوه په دغه غونډه کی یوازی‌داخبره تصویب شوه چی له افغانستان څخه دی روسی قواوی ووځی اودافغانستان مسئله دی‌له‌سیاسی لاری حل شی.

دناپیلو هیوادو بله غونډه په ۱۳٦٤دسنبلی په ۲٤(۱۹۸۵) دانگولا په پایتخت لوانداکی جوړه شو‌چی په پریکړه لیک کی له

افغانستان څخه دروسانو دوتلو ، دافغانستان ځمکنی تمامیت اوخپلواکی ته داحترام په مسئله تاکید شوی ؤ .

د۱۹۸٦(۱۳٦٤هـ ش) په مراکش کی دناپیلو هیوادونو دبهرنیو چارودوزیرانو په غونډه اوراوروسته غونډوکی هرځل په اجندا کی دافغانستان قضیه شامله وه اوپه پریکړه لیکونوکی له افغانستان څخه دروسی قواووتل اوافغانانو ته دخپل سرنوشت ټاکلو حق ورکولو پرمسئاله تاکیدشوی ؤ .

(۱۹۸۱ع کال-جون داروپا داوصنعتی هیوادونو په غونډه - دناتو دغړیو هیوادونو په غونډه ، داروپا یی امنیت په کنفرانس (۱۳۵۹دعقرب ۲٤-۱۹۸۹نومبر) داروپا دپارلمان کنفرانس (۱۳٦۰-جدی ۳۰-۱۹۸۲دجنوری ۲۰) دبشردحقوقو دکمیسیون پریکړه (۱۳٦۱هـ ش۲۷دلو -۱۹۸۳دفبروری ۱٦) اودکامنولتې دغړیو هیوادونو اونوروغونډی اوکنفرانسونوپه پریکړو کی په دی ټینگارشوی چی له افغانستان څخه دی روسی قواوی ووځی اوافغانان ته دی دخپل سرنوشت ټاکلو حق ورکړل شی .

نتیجه :

مؤمنو افغانانو دروس دمزدورانو(خلقیانو اوپرچمیانو) چی دروس هرډول مرسته ملاتړورسره ؤ ، پر ضد په تش لاس خودایمان اوعقیدی په قوت وسله وال جهاد پیل کړاوچی کله روسانوولیدل چی نوریی مزدوران دمجاهدو افغانانو په وړاندی دمقاومت ځواك نلری نوبخپله مستقیماً دمقابلی دگرته راووت اوبخپل ټول

کله چې روسانو پرافغانستان باندې يرغل وکړ ، سمدلاسه داسلامي هيوادونو دکنفرانس ديوه غړي هيواد ښکلې ديش دجمهوررئيس ضيا الرحمن په غوښتنه داسلامي نړۍ د۳۹ هيوادونو داستازيو په گډون دپاکستان په مرکز اسلام اباد کي يوه‌فوق العاده غونډه جوړه شوه چي په هغي کي يي پر افغانستان باندي دروسانو مستقيم تيري په کلکه محکوم کړ

زوراوځواك یی دافغانانوځپل اولوټل پیل کړل خودمؤمنو افغانانو پیاوړی اوځواکمن مقاومت په مقابل کی بی هراړخیزی شرمیدلی ماتی په نصیب اوله افغانستان څخه تیښتی ته اړشو.

په دی‌کی شك نشته چی پرافغانستان باندی دروسانو مستقیم تیری دنړی په معاصرتاریخ هغه ستره فاجعه وه چی ویښ بشری وجدان ته یی سخت ټکان ورکړاوکه دنړی دطاغوتی ځواکونواوحلقوسیاسی عقاید اهداف اوشوم اغراض یو خواته کیږدو په عامه توگه یی دافغانانوپه ملاتړبشری عواطف تحریك اودیرغلگرو روسانو‌پر ضدیی کرکه اونفرت لاپسی راوپاروه .

دروسانودیرغل له پیل څخه ترشرمیدلی ماتی اوان ترداوسه پوری په نړیوالو غونډو اوکنفرانسونو کی بنایی ډیروپه یوه اوبل ملحوظ دمؤمنوافغانانو ددعیی په تائید رایه اونظرڅرگندکړی وی دروسانوتیری‌یی محکوم کړی اودوی ته‌ئی دخپل سرنوشت ټاکلو دحق غوښتنه کړی وی اودکاغذ پرمخ ډیری پریکړی صادری شوی وی او چابه دروس په پلوی له واقعیتونو سترگی پټی کړی اومخالف نظریی ورکړی ؤ اوڅوك به دطاغوتی ځواکونوله ویری چوپ هم پاتی شوی وی خوافغانانو چی خاص دخدای (ج) درضا ، اعلای کلمة‌الله‌دالحاداوفساد دختملو اودهیواد دخپلواکی په خاطریی دروسانو اودهغوی دمزدورانوپه مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړی ؤ.

دچاکاغذی پریکړو اوفیصلو په تمه یی له خپل جهاد څخه لاس وانخیست دخدای نصرت یی اودوسله وال جهاد ادامه یی خپل وروستی هدف‌ته درسیدو لپاره اساسی وسله وسیله وگڼله اولکه چی ټولی نړۍ‌ولیده په همدغه کارنده وسله یی دروس غونډی یو سترشیطانی ځواك ته داسی ماتی ورکړه چی دنړۍ په تاریخ یی ساری نه لیدل کیږی.

دکې، جي، بي رئیس وایي:

دامریکا استخباراتي اداره اوځني بهرني عناصر دروسي ستونزو ته لمن وهي

دروسيي داستخباراتي دستګاه رئیس ولادیمیر کریچکوف دجدي په لومړي نیټه دګډوډیو دختمولو اودنظم اوکراري دراوستو لپاره دقوي اقداماتو غږکړیدي.

دکي، جي، بي رئیس دوکیلانو پارلمان ته وویل چي شوروي اتحاد به ډیرزردسختو اجتماعي اوسیاسي ګډوډیوسره مخامخ شي.

سوموري دامریکي داستخباراتو مرکزي اداره اونوربهرني عناصرپدي تورن کړل چي کوښښ کوي دروسي ستونزو نوري هم زیاتي کړي.

دکي، جي، بي رئیس هغه وخت داخبره څرګنده کړه چي دروسيي پارلمان داساسي قانون دتعدیلاتو په راوستو بحثونه کیدل اوغوښتل یي چي حکومت مستقیماً دجمهوررئیس ګورباچوف ترکنترول لاندي راولي.

ګورباچوف وایي پداسي حال کي چي داقتصادي اصلاحاتو پلان عملي کوي دهیواد داتحاد لپاره ضرورت دي.

کریچکوف زیاته کړیده چي دوي زیات قدرت اوصلاحیت ته اړه لري ترڅو داقتصادي ګډوډیواودملي غورځنګ محنیوي وکړي.

دخلیج دهمکاري شورا غواړي چي یو نوی دفاعي سیستم راوباسي

دخلیج دهمکاري شورادشپږوهیوادونو مشرانو لوړه کړیده چي پدي سیمه کي یونوي منطقوي دفاعي سیستم رامنځته کړي.

داسي امکان لیدل کیږي چي ایران به هم پدي منطقه کي شامل وي.

دغه فیصله دسعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، قطر، بحرین، عمان اوکویټ مشرانو دجدي په لومړي نیټه دوولسمي عالي غونډي په ترڅ کي چي په ضحئ کي وشوه، کړیده.

دقطرامیر دعراق لخوا دکویټ اشغال وغنده اوهغه یي دخلیج په ټولوهیوادونو تیري وباله.

په حیدراباد کي دزهرجنو شرابو دڅښلو له امله (۸) کسه مړه شول

سکهر:

دخطرناکو بوټو څخه جوړکړای شووشرابو دڅښلو له امله په حیدراباد کی ۸ کسه مړه شول او د۱۰کسو دسترګو نظرله منځه ولاړپه خبرکی ویلی شویدی چي دحیدراباد په بیلو بیلو ځایونوکی درنګ رنګ داروګانو اودنوروموضررسوونکوبوټو څخه دیرزیات شراب جوړاوبیا خرڅول کیدل اودغه شان دپیسو ګټلولپاره دغه شراب خرڅیدل په ۴۸ساعتو کی ددغی شرابو دڅښلو له امله ۸ کسه مړه او ۱۰ کسه ړانده شول

یوسو مسلمان دیوګوسلاویا دبوسینا ایالت ریاست ته انتخاب شو

رویتر:

دیوګوسلاویا دجمهوری ایالت بوسنیا هرزیګوونیاکی له دوهم لوی جنګ څخه وروسته په لومړی ځل یو مسلمان رئیس جمهورکاندید کړای شو یو۶۵کلن علی جاعزتی بیګوولی دجمهوری ایالت دیوه ګوند خپل مشروتیاکه دده داکامیابی دکمونست ګوند له منځه پنځه څلویښت کلنی واکمنی وروسته نفوسه جمهوری ایالت کی دمسلمانانو ډیرلوی قوت دی په انتخاباتوکی دکمونست ګوند له دماتی خوړلو وروسته اعلان شوه له دی انتخاب نه معلومیږی چی په دغه پر اودوی دیوګوسلاویا دټولی ابادی ۴۰ فیصده دی عزت بیګو ولی (ددیموکراتیک) ګوند یوغړی دی چی دده پلوی زیات مسلمانان دی دغی ګوند په دغی ایالتی شورای کی دانتخاباتو په نتیجه کی په ۲۴۰ چوکیو کی ۸٦ چوکی ترلاسه کړی دی.

بمباردمان دیوانه واررژیم ...

درخبرامده است که طی این برخورد بیست ودوتن ازمجاهدین به شهادت رسیدند.

همچنان درخبرتذکر رفته است که قوای رژیم بدنبال عقب نشینی مناطق مذکوررامورد بمباردمان شدید قراردادند که درنتیجه هفتادوسه تن ازاهالی منطقه بشمول زنان واطفال وپیرمردان به شهادت رسیده ودوصد خانه مسکونی ویران گردید.

طبق یك خبردیکر درین رابطه امده است که دراثر بمباردمان تقریباً هشتصد خانواده ازساحه مذکوربه مناطق دیگرمهاجرت نمودند که طبق اطلاع یکی ازقوماندانان منطقه اهالی مذکوربه نسبت برودت هوا وفقدان مواد غذایی با مشکلات جدی دچارمیباشند.

یك خبر دیکر جهادی حاکیست که مجاهدین بتاریخ ۲۲ قوس با استفاده ازسلاح سنکین شهروپوسته های بالاحصارکندزراتحت حملات شدید قراردادند که ازاثران سیزده تن ازافراد دشمن بشمول عسکرصاحب منصب وملیشا هلاك وهشت تن دیگر مجروح گردیدند.

په البانیا کي مظاهره وشوه

لږ ترلږه ۱۵ زره البانیا نو دجدي په لومړي نیټه دتیرانا په پوهنتون کي دډیموکراسي په پلوي مظاهره وکړه دزیاتي ازادي اودسیاسي بندیانو دخوشي کیدو غوښتنه یي کړیده

دغه مظاهره دشغه ګوند له خواترتیب شوي وه کوم چي تیره هفته دمخالف ګوند په حیث په رسمیت وپیژندل شو.

همدغه رازددي هیواد دکارګرو عمده اتحاد یي دکمونست ګوند نه ځان بیل اوخپلواکي یي اعلان کړه.

دغه ګوند ژمنه کړیده چي کارګرو ته به زیاته تنخواه ورکړي اودکارشرایط به ښه کړي.

له بلي خواحکومتي راډیو وویل چي یوخاص کمیسیون په اساسي قانون کي دبدلونو په راوستو اوداساسي قانون دمسودي په جوړولو کارکوي.

دالبانیي جمهوررئیس دحکومت کابینه په رسمیت پیژندلي اودمالیي اوترانسپورت وزیران یي لیري کړي دي

بش به سړی نه دي

داسی ښکاری چی خلیج ورو وروجګړی لمبو ته ورنږدی کیږی اودسولی اوامن لاری چاری له ناکامی سره مخ کیږی په دی وروستیو کی صدام حسین دعراق جمهوررئیس دجرمنی له تلویزیون سره په مرکه کی وویل چی عراق به دملګرو ملتونو دامنیت شوری له مقرری شوی نیټی سره سم له کویټ نه پوځونه ونه باسی، هغه وویل که چا په موږدحملی اقدام وکړ نوعراق به یی کلک ځواب ووایی ځکه چی خدای (ج) زموږملګری دی صدام وویل چی بوش سیمه دجنګ له خطرسره مخامخ کړی اوهغه ښه سړی نه دی خوبوش به هغه وخت خپل پوځونه له خلیج اوسعودی نه وباسی چی پنځه زره پوځیان یی په جګړه کی ووژل شی.

همدارنګه دامریکا ددفاع وزیر «جنرال کولن پاول» په سعودی کی خپلو پوځونوته ویلی دی چی جګړی ته چمتواوسی اوکه جګړه ونښلی نوبه ډیرکسوتلفاتو باید وګټل شی.

اوضاع واحوال ملی وبین المللی ...

روسی گونه وارد صحنه سیاست نمودند مدتها با صداقت تام درجهت منافع تکتیکی وستراتیژیك روس عمل نموده موصوف نخستین مرتبه بعد ازاستقرارنظامش علیه جنبش اسلامی کشوروارد عمل گردید،تعدادزیاد مسلمانان صدیق رابنام خائنین،کشوربه جوخه اعدام سپرد،اشخاص وافراد سیاست دان ویا تجربه رابه رهنمایی سازمان جهنمی کی، جی، بی برکنارنموده یا به زندان فرستادویاد رمنزل تحت تعقیب قرارداد وشماری رابه اتهامات ساخته شده کی، جی، بی اعدام نمود.

این پروسه با سهمگیری فعالانه افراد حزب خلق یعنی همان کمونستان وطنفروش عملی گردید که ازهمان اغازکمر به خیانت بمردم،وطن خودبسته وازخدمت گزاران راستین کمونیزم روسی بودند.

این گروه که به تمام معنی بیگانه ازفرهنگ مردم ووطن خود بودند ووجدان خودرادرپای بیگانه ها گذاشته بودند درهربخش مسوولیت خویش،طبق دستوربخاطر سرنگونی داؤد وبکف گیری قدرت سیاسی وارد کاروفعالیت شدند بنا،این خود فروخته گان درمقابله با جنبش اسلامی ومردم مسلمان سخت بیرحمانه عمل کردند.

اندك سال بعد وقتیکه محمد داؤد پلان بلند پروازانه هفت ساله رابا بودجه گزاف طرح کرد روس ها بخاطر اعمال فشاربیشتر موصوف راتحت فشارقراردادند شرایط جدید روس ها واگذاری بیشترقدرت به کمونست ها وانقیاد موصوف به دستورروس ها درروابط باکشورهای همسایه وجهان بود که داود نتوانست ان شرایط سنگین رامتقبل گردد،ناچارگردید بخاطر عملی نمودن پلان هفت ساله به جستجوی منابع پولی بپردازد.

روسها درپشت پرده رژیم محمد داؤد رادرسیم خارداری پیچاندند که خودش ازعواقب اعمالی که بدستورروسها انجام میداد ناآگاه بود.

بااین ترتیب درطول پنجسال ازیکطرف رژیم دراجرای وعده ها به ملت پسماند وازطرف دیگر با نفوذ کمونست ها درامورداجرایی دستگاه دولت،رژیم عملاً به ضعف گرایید ودرنتیجه تلاش نمود تابابدورساختن چهره های نسبتاً شناخته شده کمونست خودورژیمش را«ملی گرا»تبارزدهد که‌در ین امر نیز نتوانست دزاثر دسیسه های ظاهری وپنهانی کمونست های خلقی وپرچمی این عمال کی، جی، بی موفقیت چندانی بدست آورد.

درصحنه سیاست منطقوی وبین المللی محمدداؤد سعی بکارگرفت تاازیکطرف برای تحقق پلان هفت ساله انکشافی بودجه ومنابع پولی جستجو نماید وازطرف دیگر با بهبودی روابط با همسایگان بخصوص پاکستان وایران دریچه جدید بخاطر تنفس ایجاد نماید.

محمدداؤد با جلب رضایت بیروی انسجام کشورهای غیر منسلك جهت برگزاری جلسه درکابل دراستانه‌پیروزی مهم بین المللی قرارگرفت زیرا بعدازبرگزاری جلسه بیروی انسجام،کنفرانس کشورهای غیر منسلك نیز درکابل دایر میگردید که درپایان ان رئیس دولت افغانستان برای چند سال سمت ریاست کشورهای جنبش غیرمنسلك رابرعهده میداشت.

همچنان ایران با درك موقعیت رژیم داؤد واعتماد به چرخش بعدی سیاست ان اعتباردوملیاردالری راجهت اعمارخط اهن ازاسلام قلعه تاکابل به دولت داؤد اعطا نمود همچنان موصوف سفرهای به عربستان سعودی، کویت، ایران، لیبیا، مصروپاکستان انجام داد که این سفرها

بش نه سري نه دي

دمرغومي شپږمه !
ديوه وحشيانه يرغل او...

وركى پردى .

دمرغومى په شپږمه دتيكمرغى اوبدمرغى ، جنت اودوزخ وياړاوذلت دروازى غبرگى خلاصى شوى.

يوه سرزورى متكبر طاغوتى پوځ ته دبدمرغى ، دوزخ ، اوذلت دروازى اويوه مومن ، مظلوم اواتل ملت ته دنيكمرغى ، جنت اوياړونو دروازى ،

دمرغومى شپږمه يوعجيبه ورځ وه چى پيل يى ديوه استكباردتيرى اوفتحى په غروراوخوښى ؤ خوپاى يى دهمدغه استكبارى ځواك غمونكى له ذلت اوسپكاوى ډكه ماته وه .

اوپريوه بل ولس يى پيل داوښكو اووينو په بدرگه له درانده غم اوويرسره ؤ خوپه پاى كى يى دفتحى اوشرف تاج پرسروركيښودل شو!

دمرغومى شپږمه ديوه سترازمويښت پيل ؤ ، ديوه شيطانى سترجنگى ماشين دازمويښت اوديوه تش لاسى مسلمان ولس دايمان اوعزم دازمويښت پيل.

دمرغومى شپږمه دتاريخ يوه ستره مقابله وه دباروتو اوايمان مقابله ، دپولادو اوانسان مقابله، دوحشى روس اوافغان مقابله اوبالاخره دطاغوت اومسلمان مقابله!

دمرغومى په شپږمه ديوى پوچى فلسفى «كمونيزم»دماتى ، رسوايى اوذلت پيل ؤ اويوه مسلمان ولس دباخه عزم ، لوړواړادو اوقوى ايمان دراښكاريدو آغاز.

اوبالاخره كه دمرغومى په شپږمه پريوه ميهنى اوتوريالى ولس ديوه وحشيانه يرغل تكرارؤ نوديوه سترمادى ځواك دامپراطورى ددړى وړى كيدو اوټوټى كيدوتكرارهم شو!

هركى روس لكه انگريزموږپرهيواد راودانگل خوانجام يى له انگريزنه هم ترته بل نه ؤ په نولسمه پيړۍ كى پر نكيان چى دخيبراوسپين غرپه تروكى نسكوريدل ورسره سم يى په شلمه پيړۍ كى دماتى غوړونه خواره شول دغسى كله چى روس له آمونه په شا وشړل شودغه دتجاوزاوتيري خونړي ديوان له لويديځ اوختيځ نه تركوه قاف ورواړول شول اولادروس دماتى رسوايى اوذلت ډرامه روانه ده.

اوس دبل استكبارخوښه كه دروس اوپرنگ انجام غواړى نوكوم شاشجاع اوكارمل دى رامخى ته كړى داگردامېدان اوداهم مجاهدمؤمن افغان.

دنړۍ هرطاغوت ته ، هروحشى ځواكمن ته ، هرمغرورته اوهرجابر اوظالم ته چلينج دى ، راځى دى ، دلته هنگامه گرمه ښه ده ، دلته دحق اوباطل ترمنځ دمقابلى ډگرتودښه دى ، دلته دى تل دتكبير چيغى وى اودباطل پرخلاف دجهاد اومقاومت شعارونه !!!

دهند په دري ایالتونو کی دمسلمان وژني فتنو له سره زورنیولی

نوى ډيلى :

دهندپه دريوايالتونواترا پرديش - اندراپرديش اوگجرات كى يوځل بيا دمسلمان وژنى فسادونه پيل شويدى ، داتراپرديش په اگره كى دجمعى په ورځ هغه وخت بيا فسادونه پيل شول چى په بنديزلگولوپابندى لرى شوه اوس دهند په درى واړو ايالتونو كى دمسلمانانو وينى بهيږ ى دعلى گړداسلامى پوهنتون مسلمانو محصلينو په چندرشيكرتورلگولى چى هغه له افرا طى هندوانو سره دمسلمان وژنى په فتنوكى پټ لاس لرى ، دغو محصلينو ويلى چى په على گړكى تراوسه پورى پنځه سوه تنه مسلمانان شهيدان شويدى خوپه رسمى راپوركى حكومت «٦١» تنه اعلان كړيدى هغوى دهند حكومت دروانوفتنوحامى اوملاتړوباله اوويى ويل چى په هند كى نن دمسلمانانو په وينو كومه لوبه گرمه ده په دى كى دهند ټول حكومتى اوتنظيمى مشران شريك دى.

دمجاهدينو په يوه كامياب يرغل كى :
اته تنه هندي پوځيان ووژل شول

په نيول شوى كشميركى دپخوانيو جگړو په دوام دحركت المجاهدين ډلى مجاهدينودهندوانو په يوه پوسته دحملى په ترځ كى(٨) تنه هندى پوځيان ووژل اومجاهدين روغ رمټ خپلو هډوته ستانه شول همدارنگه له سرينگرنه په راغليو خبرونو كي ويل شويدى چى هلته دهندى پوځونو ظلمونه جريان لرى اوپه مختلفوځايونو كى «٧» تنه مسلمان كشميريان جلا جلا دهندى پوځيانو دظلم اوستم په وجه شهيدان شويدى.

په پولينډ كى به دكمونيزم شومه دوره ختمه شي

دپولينډ نوي جمهوررئيس چي ددويمې نړيوالې جگړې وروسته دهيواد په لومړيو انتخاباتو كي دجمهوررئيس په توگه وټاكل شو په افتتاحيه غونډه كي دوينا په ترځ كي ويلي دي : دهغه بري دكمونيزم شومه دوره ختموي اويونوي پولينډ به ډگرته راشي.

هغه ژمنه وكړه چي په ملك كي به دآزاد بازاراقتصادي سيستم دپروگرام په اساس اصلاحاتو ته ادامه وركړي.

پخواني جمهوررئيس ياروزلسكي دغي غونډې ته رابلل شوي نه ؤ.

شوروي اتحاد له ټوټې ...

دروسيى مشرگورباچوف ويلى دى دروسيى دساتنى لپاره هغه ته زيات واك اواختيارضروردى - هغه خبرپالانوته دخبرو په وخت كى وويل چى كه موږ له ماضى نه عبرت وانه خيست نوشوروى اتحاد به ټوټه ، ټوټه شى گورباچوف زياته كړه چى دشوروى دجمهوريتونوله اقداماتو نه اوس دشوروى اتحاد دوحدت اوسالميت ته سترگواښ راپيدا شويدى - دجمهوريتونو دااتحادزنځيرشليدلى هغه ويلى چى زه غواړم چى شوروى اتحاد اداره كړم ، همدارنگه گورباچوف دخپلى كورنۍ « بابا اوپلار، دقربانيو يادونه وكړه چى بابا مى دستالين لخوا په بيگاركمپ كى اچول شوى ؤ

دهئيت تحرير ترنظر لاندي
مسوول مدير : شهرت «ننگيال»
مرستيال : سيدمحي الدين «هاشمي»
مكاتباتي پته : پوست بكس (١٠٣٣)
يونيورستي ټاؤن پيښور
تيلفون ....(٤١٧٤٦)...

په لاهوركى دايران د «خانه فرهنگ » مسوول ترورشو

دلاهورپه ښاركى دايران دخانه فرهنگ مشرصادق گنجى هغه وخت دماشيندارو په گوليو ووژل شو چى له دفترنه كورته روان اوخپل موټرته دسپريدو په حال كى ؤ ، په هغه دنامعلومو كسانولخوادزى وشوى اوصادق گنجى ځاى په ځاى خپل روح حق ته وسپاره اودوه تنه نورملگرى يى سخت ټپيان شول ، صادق گنجى يومنورزلى اوبا احساسه مسلمان ؤ ويل كيږى چى دهغه قتل دبين المللى صهيونيزم اوامريكا په اشاره كيداى شى ځكه داسى ښكاريده چى صادق گنجى ديوه انقلابى اوسوچه هوډخاوند اودروښانه راتلونكى په انتظارؤ.

تقاضاي جمع آوري ومنع تجديد چاپ كتاب «آيات شيطاني»

رهبران مسلمانان بريتانيا درخواست كرده اند كه فروش كتاب «آيات شيطانى » نوشته سلمان رشدى ممنوع شده وناشرآن درامد كتاب رابراى مصارف خيريه بپردازد.

اين مطلب دركميته اموراسلامى مورد موافقه قرارگرفت . مسلمانان جامعه بريتانيا باين اقدام زمانى دست زدند كه سلمان رشدى درصدد ازسرگرفتن زنده گى عادى خودميباشد .

سلمان رشدى بعد ازصدورفتواى مرگش ازطرف ايت الله خمينى بمناسبت تحرير كتاب «ايات شيطانى»دراختفا بسر مى برد.

راديو بى بى سى ضمن نشراين خبرگفته است : كميته اموراسلامى بريتانيا طى اعلاميه مجدداً خواستارجمع اورى نسخه هاى كتاب مذكوروبرممنوعيت تجديد چاپ ان تاكيد نموده است
نطاق كميته مذكورضمن رداين افواهات كه گويا با سلمان رشدى گفتگوهاى صورت گرفته،گفته است كه اعضاى كميته هرگزدرصددمذاكرهبا موصوف برنيامده اند.

طبق يك خبرديگر موصوف درمدت بيست ودوماه كه دراختفا است ازطرف سه پوليس انگليسى محافظت شده وبه قول روزنامه «انديپندنت » درهمين مدت دومليون پوند سترلنگ انگليسى بخاطرحراست وى بمصرف رسيده است.